


# آیا شاه میړه درلود؟

لیکوال: کامران فرزان

ژباړن: عبدالجمیل ممتاز

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** آیا شاه مېړه درلود؟

**لیکوال:** کامران فرزان

**ژباړن:** عبدالجمیل ممتاز

**برېښنالیک:** aj.mumtaz32@gmail.com

**ډیزاین:** ژباړن

**د خپرېدو کال:** ۱۳۹۹ ل/۲۰۲۰ز

**د خپرېدو بڼه:** الکترونیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

## تاسو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| 1. | د اروا پوهنې له پلوه همجنسبازي | 1 |
| 2. | ارنسټ پیرون د شاه لومړی مینه | 10 |
| 3. | د فرح په اړه څه ویل شوي؟ | 32 |
| 4. | خبیرخان د شاه دوهم مینه | 50 |
| 5. | د شاه فریباسون کېدل | 59 |
| 6. | د طلا قضیه څه وه؟ | 65 |
| 7. | په دغو پېښو کې د اشرف پهلوي رول | 76 |
| 8. | موږ اوس د یو سویسي ولیعهد خاوندان وو! | 85 |
| 9. | د همجنسبازو په کلب کې د شاه تصویر | 92 |
| 10. | د نړۍ نامتو همجنسبازان | 98 |
| 11. | په پای کې | 100 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اروا پوهنې له پلوه همجنسبازي**

آیا شاه همجنسباز و؟... آیا شاه د هغو ګڼو نورو کسانو له ډلې و، چې دوه جنسی دنیا ته راغلی او سره له دې چې نارینه غړي او مشخصات یې لرل، له خپل همجنس نه یې هم استفاده کوله؟ دا او سلګونه نورې پوښتنې دي چې د جریدو او کتابونو له لارې په دې اړه خپرې شوې؛ خو هیڅ بشپړ او روښانه ځواب نشي ترلاسه کېدای، ځکه هېڅ قاطع او رسمي مدرک په دې اړه نشته او تر ډېره دا امکان لري چې دا ټول تورونه یو ډول سیاسي تیرى وي او یا بالعکس واقعیت ولري.

په دې هکله د ټولو لیکوالانو او راویانو له دلایلو او بحثونو نه دا پایله اخلو چې که شاه همجنسباز و، نو هیڅکله یې مفهوم دا نه دی چې ګواکې هغه د فاعل حالت درلود، بلکې هغه تل مفعول پاتې شوی او دا له دې امله چې د هغه نارینه جنسي ځواک کمزوری و.

شاید ډیرو لوستونکو ته دا سخته وي چې کله د سړي په واک کې د دنیا ټول نعمتونه او مخالف جنس (ښایسته ښځې) وي، څنګه کیدای شي چې د جنسي انحراف ښکار وګرځي؛ خو دلته باید یو ټکي ته پام وشي چې مفعولتوب د مال، مقام او دبدبې سره هېڅ تړاو نلري، بلکې پوره فزیکي او رواني اړخ لري او ډیری د معتبرو او لویو کورنیو وګړي په دې ناروغۍ اخته کیږي چې له دې ډلې د هویدا، ډاکټر اقبال او ... همدارنګه د لوی سکندر او د ګڼو نورو نامتو کسانو نومونه یادولی شو.

له رواني لاملونو څخه یو، چې د جنسي انحراف لامل پېژندل شوی دی، له زوی سره د پلار زیات تشدد او تندي ښودل شوي، دا د اراپوهانو لخوا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجربې سره ثابته شوې، زياتره هغه زامن چې غوصناک او قهرجن پلاران لري، په دې ناروغۍ ککړېږي او دا هېڅ عجيبه نه ده! ځکه شاه چې د جبار او غوصناک پلار (رضاخان) زوی و، نو له امله به يې خامخا هغه په دې ناروغۍ اخته شوی وي.

مخکې له دې چې د شاه د مفعولتوب اړوند ټولو مقالو، اندونو او کتابونو په هکله بحث وکړو، ښه ده چې له علمي پلوه ورباندې رڼا واچوو او هغه لاملونه چې د دغه انحراف سبب ګرځي سم وپېژنو او له دې وينا دا نتيجه ترلاسه کړو چې آيا شاه له رواني پلوه د مفعولتوب مستعد و که نه؟ بيا هم مخکې له دې چې اصلي مطلب ته لاړ شو، په کار ده ووايم چې د ارواپوهانو په اند نرتوب او ښځتوب نسبي مسأله ده؛ په دې معنا، هغه لاملونه چې يو بدن تشکيلوي، د نر او ښځې ترمنځ يو شان دي او په يو وګړي کې د هغه جنسيت ته له کتو پرته ښځينه او نارينه خويونه راښکاره کېږي او پر دغه اساس که په يو چا کې نارينه خويونه غلبه وکړي، نر کېږي؛ په داسې حال کې چې کېدای شي هغه په سلو کې ۲۰ ښځينه خويونه هم ولري. د دغو ارواپوهانو په باور هيڅوک نه بشپړ نر دی او نه هم ښځه! البته تر ټاکلې اندازې پورې د دغه جنسيت تفاوت د جنسي انحراف لامل نګرځي، خو که يو څوک۵۰ سلنه ښځينه او ۵۰ سلنه نارينه خويونه ولري، له شک پرته د جنسي انحراف ښکار ګرځي.

همجنسبازي، د خپلو همجنسه وګړو پر وړاندې له جنسي تمايل او لېوالتيا څخه عبارت ده.

دا ناروغي ګڼ بستري ډولونه لري؛ د همجنسبازۍ د نسبي شيوع په اړه بشپړ او دقيق رقم په واک کې نشته، خو د امريکايانو نيمګړې شمېرنې دا ښيي چې په هغې ټولنه کې دغه مهلک انحراف پنځه سلنه شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته دا بايد په پام کې ونيول شي چې دغه پنځه سلنه انحراف د همجنسبازۍ ټولو بستري ډولونو کې شته، خو د فاعل او مفعول ډول يې کم دی او نيم په سلو کې اټکل کيږي.

دغه راز له ظواهرو دا جوتيږي چې دا انحراف په انګلستان کې خورا ډېر دی. څېړنې او تجربې ښيي چې په لويو ښارونو کې همجنسبازان ډېر دي؛ علت يې دا دی چې دوی د مرکزي کميټو او سازمانونو جوړولو لپاره دغو ښارونو ته کډه کيږي او له بل پلوه په لويو ښارونو کې د انحراف رامنځته کېدونکي شرايط هم په اسانه برابرېدلای شي.

په هغو هيوادونو کې چې د نر او ښځې ترمنځ اړيکې په يو ډول محدوديږي، هلته جنسي انحراف ډېر ليدل کيږي. همجنسبازي د هرې طبقې او دندې اړوند ټولو کسانو ترمنځ تر سترګو کيږي، خو په تېره بيا په لوړو پوړونو او مرفه خلکو کې مخ پر زياتېدو ده چې د سپين پوستو تر منځ دا انحراف بيخي ډېر دی.

د همجنسبازۍ لامل تر اوسه لا په سمه توګه نه دی پېژندل شوی، د همجنسبازۍ د ارثيتوب فرضيه چې لومړی د فون کرافټ ارنيګ لخوا وړاندېز شوه، خو روسته تر ډېرې سختې نيوکې لاندې راغله. د دغې نظريې له مخې همجنسباز کسان دا ناروغي له خپلو والدينو نه په ارث وړي او همدغسې يې خپلو اولادونو ته هم لېږدوي؛ خو په عملي توګه هېڅ جنېټيکي او کروموزومي اختلال، چې د ناروغۍ د لېږد مسوول وي، نه کشف کيږي او په ټوليز ډول د دغو ناروغانو بيولوجيک حالت له سالمو وګړو سره توپير نلري.

د همجنسبازۍ د ارثيتوب نظريې له خپرېدا روسته، ورو ورو يې پلويان هم زيات شول چې له هغې ډلې نه هيرشفلډ د خپلو ليدنو او تجربو پر اساس دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظريه ومنله؛ دغه راز يو بل پوه (اليس) هم تر يو حده دا ناروغي ارثي وبلله؛ په ځانګړې توګه پر دغې نظريې هغه وخت باور زيات شو چې کالمن په خپل راپور کې په دې اړه  په غبرګونو کې د همجنسبازۍ جنېټيکي اړخونه خپاره کړل.

نوموړي ۸۵ تنه ناروغ همجنسبازان تر مطالعې لاندې ونيول چې له هغوی نه ۴۰ تنه متشابه غبرګوني يا يو تخمي او ۴۵ تنه يې نامتشابه غبرګوني يا دوه تخمي ول. کالمن دا وښوده چې په دوه تخمي غبرګونو کې که يو همجنسبازه وي، نو ۵۰ سلنه د نورو د همجنسبازۍ احتمال شته، حال دا چې په يو تخمي غبرګونو کې دا احتمال سل په سلو کې وي. (دغه مطلب ته د شاه د همنسلو غبرګونو پورې بسط ورکړئ ، يعنې اشرف پهلوي چې هغه هم په يو بل ډول په جنسي انحراف ککړه وه).

د کالمن د نظريې او مشاهداتو په مخالف اړخ کې د نورو څېړونکو موندنې هم شته، لکه (لانګ او وسټ) هغوی داسې موارد ليدلي چې د يو تخمي غبرګونو يو تن همجنسباز دی او بل نه دی چې پخپله کالمن هم دغه حالت لږ تر لږه په يو مورد کې ياد کړی دی.

د هورموني اختلالاتو مسأله تل د همجنسبازۍ د رامنځته کېدو اصلي لامل په توګه تر بحث لاندې نيول شوې، خو هېڅکله نه ده تأييد شوې. همجنسبازي او يا په تولېز ډول په نربښځيانو او همدارنګه په هغو کې د همجنسبازۍ د تمايلاتو شتون له هغو نورو کسانو سره توپير لري چې له کوچنيوالي پرې اخته شوي وي،.

له بل پلوه د همجنسبازو او نورو منحرفانو هورموني وضعيت معمولاً طبيعي دی او دا خبره کينزي هم په ۱۹۴۱زکال کې کړې ده. سربېره پر دې داسې تجربې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ليدنې شته چې د جنسي اخلاقو د راټوکېدو په ډول او همدارنګه د جنسي مفعول په غوره کولو کې د هورمونونو رول اغېزمن ښيي او د هغو ونډه لږ تر لږه د مستعد کوونکي، بيدار او سمونکي عامل په توګه بشپړوي.
شتاينلخ، د مخالف جنس د جنسي غدو له پيوندونو نه پر همجنسبازۍ اخته حيوان تجربه وکړه او ګولډسميت هم دا تجربه د پتنګانو د کورنۍ په حشراتو کې ترسره کړه او پايلې ته ورسېد. د نر جوړونکي او ښځه جوړونکي هورومونونو تر منځ د تعادل نشتون (د ښځه جوړونکو هورونونو د ډيريدو پر لوري) هم په معمول ډول په نرانو کې د غوصې او جګړييز خوی کموي او په هغوی کې انفعالي سلوک او اخلاق رامنځته کوي او بالاخره هغوی د همجنسبازۍ وړ ګرځوي. په رحم کې دننه د ژوند پر مهال د بدن پر ټولو غړيو د هورمونونو اغېز د وګړي په جنسي کړو وړو کې بدلون راولي، خو د دغه اغېز او بدلون ډول په سمه توګه د پېژندو نه دی.
ناځاپه د چاپيريالي او روزنيزو لاملونو رول او د مشروطو ميکانيزمونو تداخل، د ناسمو جنسي اخلاقو په رامنځته کيدو کې خورا اغيزمن دی؛ په ځانګړې توګه په هغو انسانانو کې چې د هغوی غريزوي اخلاق له ځناورو يا حيواناتو کمزوري وي او زياتره کړه وړه يې د هغه څه پر وړاندې چې منلي او زده کړي يې دي، غبرګوني بڼه لري.
په دې اړه هم ډېرې داسې ازموينې او تجربې شته چې ښيي، کله چې همجنسه موږکان د يوې اوږدې مودې لپاره سره يو ځای وساتل شي، نو تر يوې مودې روسته د هغو تر منځ د همجنسبازۍ اخلاق پيليږي. د دغو اخلاقو له رامنځته کېدو او اوږدې مودې روسته که د (منحرف شويو) موږکانو تر منځ يو شمېر ښځينه موږکان ورزيات شي، نو ځيني نارينه موږکان د ښځينه موږکو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه کېدو هېڅ لېوالتيا نه ښيي او ځيني منحرف شوي موږکان له ښځينه موږکو څخه د جلاتوب په مودې پورې اړه مومي.
په انسانانو کې عملاً جګړه، زندان، سمندري ګرځېدنه او نور ټول هغه څه چې د ناهمجنسو تر منځ د جلاوالي لامل ګرځي، انساني کړو وړو کې تشدد پيدا کوي او د همجنسبازۍ تمايلات رامنځته کوي.
زوکرمان او نورو هم دغې پديده کې تجربه کړې ده؛ زياتو څېړونو دا ښودلې چې لکه د ټولو رواني ناروغيو په شان د همجنسبازۍ په رامنځته کېدا کې هم تل څو علتونه شته او لازمه ده چې ناروغ له څو اړخونو نه وڅېړل شي.
د همجنسبازۍ په رامنځته کېدا کې دوه مهم لاملونه رول لري: يو ــــ (مور ذاتي استعداد) چې د شخصيت ناسم تکامل ورپورې نښلي او د شخص جنسي ميل په ناسمه توګه پر جنسي مفعول منعطف کيږي. که داسې وويل شي چې په بنيادم کې جنسي پارېدنه خالصه غريضه نه، بلکې په شدت سره د مغزي عالي مراکزو تر تاثير لاندې ده او د چاپيريالي عواملو له امله په مشروط ډول منحرف کيږي او په ډول- ډول پړاوونو کې (رواني ــــ جنسي) ګڼ شرطي غبرګونونه دخالت کولی شي او په لړ کې يې انحراف رامنځته کيږي.
د فرويډ نظريې پر اساس، دا انحرافات په کوچنيوالي کې د (رواني ــــ جنسي) تکامل له وقفو څخه رامنځته کيږي.
ځيني وخت د ناروغ روزنيز چاپيريال په ماشومتوب کې داسې وي چې هغه د ناهمجنسو سره له اړيکې نيولو څخه ډارول کيږي او حتا ښځې سره اړيکه ورته يو ډول ناروا او غيرطبيعي ښودل کيږي. تدريجاً کله چې ماشوم غټيږي، له ناهمجنس سره هر ډول جنسي اړيکه، په هغه کې د ماشومتوب د وخت رنځمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطرات راژوندي کوي او کېداى شي د جنسي مفعول په غوره کېدا کې هغه خپلو همجنسانو ته لېواله کړي او د هغو پر خوا يې وروکاږي.
کله چې يو هلک ښځينه خوى ولري، نو هغه له ماشومتوبه په ښځينه عاداتو او اخلاقو روزل شوى وي، داسې چې ماشوم د خپل جنسي هويت په اړه مشکوک کېږي او همغه ده چې د همجنسبازۍ زمينه يې ورته برابره کړې وي.
هغه هلکان چې د نجونو په شان روزل کېږي (خصوصاً په معتبرو کورنيو کې) غالباً د والدينو د توجه جلبولو لپاره داسې ښيي چې ګواکې د مخالف جنس کړه وړه تقليدوي؛ خو په واقعيت کې هغوى يوازې غواړي له دې لارې خپلو پلرونو ته فريب ورکړي او کله چې په د بلوغ په دوره کې د طبيعي هيموروتيک پړاو ته رسيږي، بېرته ميل پيدا کوي، تر څو خپل همجنسه دوستان د خپل پلار پر ځاى وګڼي او په ناخوداګاه ډول د هغوى مطلوب واقع کېږي.
زياتره همجنسبازان په ښکاره له عادي بنيادمانو سره توپير نلري، خو د ځينو قيافه او تګلورى (ښځينه) اما د عادي خلکو پر تله سورور او د غټو تيو (سينو) خاوندان دي. ځيني ناروغان بې وېښتانو بدن، سرې او ډبلې شونډې او ظريف او چاغ لاسونه لري چې دا نښانې هم د هغوى د اختلال په زياتېدا کې موثرې دي.
عادي بنيادمانو سره د همجنسبازو مهم او ژور رواني توپير، د هغوى همجنسو وګړو سره جنسي تمايل دی. که د دغو ناروغانو روحي کيفيات مطالعه شي، دا ښرګنديږي چې هغوى تر نورو ډير ماشومانه خويونه لري او د هغوى ښځينه خويونه په حقيقت کې همغه ماشومانه خويونه دي چې د رواني تکامل د نيمګړتيا له امله وربانديې پاتې دي. د همجنسبازو يو بل خصوصيت دا دی چې پر نورو له حد زياته اتکا لري او دغه راز خورا بې ځواکه او بې ارادې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په روستيو کلونو کې د همجنسبازو د تصعيد، هوښ او ابتکار په اړه داسې بحثونه هم شوي چې ډيری ځواکونه او توانونه يې ورته منسوب کړي او دغه راز د نړۍ له ډېرو پياوړو کسانو نه يې (چايکوفسکي، پروسټ، ميکلانژ، سکار وايلډ او نور) هم همجنسباز ګڼلي دي.

هغه تجربې چې تازه په دې اړه شوي دي، يو شان پايلې يې نه دي لرلي او بايد دا ومنو چې د دغو ناروغانو هوښ له عادي خلکو سره توپير نلري او که يې لري هم، نو د زياتېدو په حال کې نه دی. د دغو کسانو له ډلې اکثريت يې سست او له فکري پلوه روسته پاتې وګړي دي، زياتره همجنسباز کسان د ښځينه خويونو په تر سره کولو سره خوند اخلي، خو زياتره يې د همجنسبازو په ډله او مرکزونو کې په ښځينه بڼه ځانونه راڅرګندوي، پرته له دې يې د عادي خلکو تر منځ په ناسته پاسته کې هيڅ توپير نه ليدل کيږي، اما کله کله ترې غير ارادي او عادي حرکات پيښيږي چې په بشپړ ډول د خلکو پام ځانونو ته ور اړوي.

دوی د تلو پر مهال خپلې پوندې جيګوي، خپل کوناټې ښي او کيڼ لوري ته اړوي، لاسونه خپلو څنګونو ته ښه جوخت نيسي او لکه د سالمو نارينوو په شان يې شا او مخې ته نه ښوروي. د همجنسبازو د خبرو کولو طرز غالباً ښځينه دی، زياتې اداګانې کوي او خپلو کلماتو ته مليح او ښځينه آهنګ ورکوي.

په ټولنيز ژوند کې زياتره همجنسبازان عادي او د نورو خلکو په شان دي، ځيني يې وظيفه پېژاندي دي او خپل کار ته رسيږي، په خپلو کارونو کې جدي دي او کله کله هم مسوول او نيک اندي وګړي وي. دوی خپل وزګار وخت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور په ښایسته کولو او ورته نورو کارونو باندې تېروي او یا هم د بوختیا لپاره خپل همجنسباز دوستان د لیدو کتو لپاره وربولي.

معمولاً په همجنسبازۍ اخته ناروغان واده نه کوي او زیاتره یې د ښځو پر وړاندې ځانونه کمزوري او ناتوانه ګڼي.

بل ډول همجنسبازان اختیاري یا دوه جنسه دي، چې دا ډله بیا نر او ښځې ته تمایل ښیي، خو دغه تمایل یې بیا هم سره توپیر لري؛ غالباً دوی واده کوي، خو دا چې د سالمو نرانو په شان د ښځو پر وړاندې دومره تمایل نه ښیي، کله کله پکې د نارینه په نسبت زیات او مداوم میل پیدا شي او کله هم په دوره ییز ډول راڅرګندیږي او بېرته له منځه ځي. له دغو منحرفانو نه بیا ځیني یې د هغو ښځو پر وړاندې زیات تمایل ښیي چې هغوی د نارینه خوی او بوی لري او معمولاً له دغسې ښځو سره واده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارنسټ پېرون د شاه لومړی مېړه**

له یوې اجمالي څېړنې روسته چې په هغې کې مو د اروپاپوهانو له قوله نتیجه اخیستې، دا ده چې د پلار د توندۍ، تشدد او غوصې له امله تر ډېره حده امکان لري چې زوی یې په جنسي انحراف اخته شي؛ له دې امله زوی دا هڅه کوي چې د پلار له تشدد نه د ژغورنې لپاره ښځینه خوی او بوی خپل کړي، تر څو یې پلار ورباندې شفقت وکړي او هغه ونازوي چې له دغه ځایه همدا زوی ښځینه حالتونه او خویونه خپلوي او په ټول عمر کې د قهرجنو او غوصناکو خلکو سره د عادت په ډول تمایل مومي.

د محمدرضا شاه د همجنسبازۍ په اړه خورا زیات اقوال شته، دلته مو هڅه کړې، څو په بې پلوۍ او بې طرفه توګه یې درته راواخلو او له هر ډول جاج اخیستو څخه یې ډډه وکړو.

د هغه عمومي باور په غبرګون کې چې وایي: همجنسبازي له ښځې نه د لېربوالي له امله رامنځته کېږي؛ موږ دلته په دې هکله عمده دلایل راټول کړي او له بستري پلوه کیدای شي داسې دلایل وموندل شي چې شاه به پر دغې ناروغۍ اخته شوی وي؛ له دې ډلې نه د زیات تشدد، د رضاخان انحصار او بیا هغه تمایل چې محمدرضا په ټول ژوند کې د هلـورو او زېړو ښځو سره درلود، یادولی شو چې روستۍ یې هم د لوړ قد او غټو هډونو خاونده فرح وه، ان ویلی شو چې هغه له شاه نه هم قوي وه او هغه چا چې دا ښځه له نزدې لېدلې، ښه پوهېږي چې په فرح کې د ښځینه خوی او بوی پر تله نارینه خویونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر شتون درلود او ان دا چې د هغې غړ هم نیمه نارینه و، خو بالعکس يې د شاه غږ پوره نيم ښځينه و.

زياترو مجلو له ډير ځنډ روسته بيا د ايراني شاه د همجنسبازۍ موضوع توده کړې ده، له هغې ډلې د لايف مجلې مقاله چې د همجنسبازو په اړه يې خپره کړې وه، په هغې کې د همجنسبازو انځورونه هم ول چې په هغه کتار کې د ايراني شاه انځور هم راغلی و او دا هغه نامتو تصوير و چې د ايران په اميد مجله کې څو کاله وړاندې خپور شو او له امله يې څو ځله د مجلې مسوول مدير د اعدام تر تختې پورې يوووړل شو.

له دغو مجلو څخه يوه بله جنجالي مجله د امريکا کنفيډنشل مجله وه چې په دې اړه يې زياتې ګوتې وهلي او خبره يې ان تر دې رسولې چې وليعهد د شاه حقيقي زوی نه بولي، خو داسې بريښي چې يوه مستدله مقاله نه، بلکې يو تبليغاتي او مطبوعاتي جنجال ته ورته و. ځکه چې که څوک دومره هم پوه نشي چې دوی دواړه پلار او زوی دي، نو د دواړو عکسونه دې سره مقايسه کړي او د پلار او زوی دومره ښکاره ورتوالی به پکې ووينې چې د دغو مشابهتونو کتمان به ناممکن شي.

د دغو ټول بحث سره سره که د يادو ادعاوو له مخې د ايران شاه همجنسباز وبولو، بيا به هغه يوازې له هغو دوو جنسي همجنسبازو څخه وي چې هم نر او هم ښځې ته تمايل لري، نو پر اساس يې د پاسنۍ فرضيې منل چې ګواکې وليعهد د مخلوع (شنډ) شاه اصلي زوی نه دی، يو څه ثقيل بريښي.

ځينو نورو کسانو هم په دې اړه خپل اقوال راخيستي دي، له هغې جملې څخه محمد پور کيان (د اريا مهر شاهنشاه مېړه) په نوم کتاب کې ځيني نظريات راوړي دي چې زياتره يې کيسو ته ورته دي، نه مقالو ته. خو په هر حال، موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کومې شخصي پايلې اخيستنې پرته د دغو مقالو ځينې برخې را اخلو او پرته له دې چې خپل نظر پرې ورکړو کټ مټ يې درته ذکر کوو. البته يوه مهمه مسأله چې دلته راسره مرسته کوي او دا ثابتوي چې شاه همجنسباز و، د انګليسي فريماسونري (freemasonry) په ځانګو کې د هغه غړيتوب و، چې غلام رضا پهلوي، شريف امامي او هويدا (نامتو همجنسباز) يې هم غړي ول؛ وايي چې په دغه سازمان کې د غړيتوب له اصلي شرطونو څخه يو، د فردي شخصيت له منځه وړل ول، تر څو روسته بيا دا غړي لکه د خميرې په شان هر ډول بدلون ته چمتو وي.

د فريماسونري په سازمان کې غړيتوب ګڼ شرايط درلودل چې يو يې مفعول کېدل و او په ترڅلو سترګو او توره تياره کې د څو تنو تر جنسي تيري لاندې راتګ، تر څو له دې لارې غړي ته د اطاعت او غاړه ايښودو کچ وټاکل شي؛ بله مهمه يې دا چې په دغه سازمان کې د شريف امامي مقام تر محمدرضا شاه يوه درجه لوړ و، کيداى شي چې پر شاه په لومړي تيري کې دغه ښاغلي هم برخه اخيستې وي، ځکه خو يې په مراسمو او اخترونو کې د شاه لاس هم نه مچاوه.

لکه څنګه چې محمد پور کيان په خپل کتاب کې ليکلي دي، د شاه د ماشومتوب د وخت دوه ملګري چې دواړه تکړه ځوانان ول او د دواړو ظاهري څهرې د رضاخان ظاهري څهرې ته ډيرې پاتې کېدې، يو يې شفيق حسين فردوست (اوسنى سرلښکر) او بل يې مهر پور تيمور تاش و.

يو بل تن چې د شاه د همجنسبازۍ په اړه يې ادعا کړې، د پهلوي دربار پخوانيو خدمتکارانو څخه ده، خو اوس په ژونديو کې نشته. دا خدمتکاره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ يې په مستعار نوم (مريم) نومولی شو، د داسې مطالبو رسوا کوونکې ده چې هيڅوک نشي کولی د هغو صحت يا سقم ثابت کړي.

ميرمن مريم د دربار د ښوال لور وه چې په ۱۳ کلنۍ کې د مور ملکې لپاره د خدمتکارۍ په توګه وټاکل شوه او دا چې په همدې موده کې يې فرانسوي ژبه زده کړه، نو روسته بيا مور ملکې هغه د مخلوع شاه د يو ملګري مخصوصې خدمتکارۍ په توګه وټاکله او هغه څه چې تاسو به يې له دې روسته ولولئ، داسې مطالب دي چې دغې خدمتکارې څرګند کړي دي.

د ميرمن مريم د مشاهداتو له ذکر کولو مخکې بايد لږ شاته وګرځو! په ۱۳۱۵ ل کال کې چې وليعهد (شنړ شاه) سويس هېواد پرېښود او د خپل مخصوص سپورټي ښوونکي ارنسټ پېرون په ملتيا ايران ته راستون شو؛ د تاريخپوهانو په وينا، ارنسټ پېرون ۲۴ کلن هلېور، لوړ او پياوړی ځوان و؛ دغه راز د رضاخان د ځوانۍ ښهرې سره يې بېخي ډېر ورته والی درلود او دا چې مريم په فرانسوي ژبه پوهېدله، نو د همدغه ځوان چې د رضاخان ځوانۍ سره مشابه و، د هرکلي ماموره وټاکل شوه.

د وليعهد (مخلوع شاه) له راتګ روسته درباريان او متنفذان په دې فکر او لټه کې شول، څو د دغه ښکلي او جذاب شخص لپاره يوه نجلۍ پيدا کړي چې بالاخره قايم الملک رفيع د يو خپلوان لور چې ګيتي نومېده، دربار ته يې د وليعهد مخصوصې نوکرۍ او مصاحبۍ په توګه واستوله؛ له دغه کار نه د قايم الملک اصلي هدف دا و چې ګيتي وليعهد ته نزدې شي او په پايله کې يې واده ته لاره هواره شي.

سره له دې چې ګيتي په مختلفو ډولونو سره وليعهد ته ورنزدې کېدله او هڅه يې کوله چې د وليعهد پام ځانته ور واړوي، که څه هم ګيتي ښايسته نجلۍ وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ولیعهد به تل ځان ترې لېرې کاوه، اما ارنسټ پېرون بیا د هغه پر عکس،له معمول حد نه هم بیخي ډېر، ګیتي سره نزدېکت کاوه.

مېرمن مریم وایي: یوه شپه چې زه په خپله کوټه کې ناسته وم، ګیتي په ژړا او منډه کوټې ته راننوته، په داسې حال کې چې لاسونه یې زما له ملا چاپېر کړل، په هق هق یې زارۍ راته پیل کړې:

- مرسته راسره وکړه، مرسته، بیخي بیچاره یم.

کله مې چې هغه ارامه کړه او بیا مې د علت په اړه ترې وپوښتل، ویې ویل:

- د درې میاشتو حامله یم!

دا چې ما د هغې پر وړاندې د ولیعهد مینه او علاقه نه وه لیدلې، نو سمدلاسه پوه شوم چې دا تیری به خامخا د ارنسټ پېرون لخوا ترسره شوی وي، ځکه زه له وړاندې پوهېدم چې ولیعهد خو به په اونۍ کې یوه یا دوه شپې په غلا د ارنسټ پېرون کوټې ته ورته او تر سهاره به یې د هغه سره په یو تخت شپه سبا کوله او بیا به بېرته هم په ډېر احتیاط سره خپلې کوټې ته راستون شو.

ګیتي وویل، ارنسټ پېرون ورسره د واده کولو ژمنه کړې او له همدې لارې یې غولولې ده او دا چې اوس یې په خېټه کې ماشوم دی، نو په هیڅ ډول نه غواړي چې واده ورسره وکړي.

ما دا غوره وګڼله چې ګیتي باید له ولیعهد نه مرسته وغواړي او چې کله ولیعهد له دغه جریان نه خبریږي، وایي:

که زما پلار (رضاشاه) له دغه جریان نه محضې هم بوی یوسي، فوراً به ارنسټ پېرون له ایران څخه وشړي) او بیا به ته هم هغه ته لاسرسی ونلرې، خو که چېرې داسې ووایې چې ته له مانه حامله شوې یې، هیڅوک به پوه نه شي او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به هم اعتراض وکړي، په دغسې حالت کې زه کولی شم درسره مرسته وکړم او د واده ترتیبات او خرڅ درته درکړم.

له دغه جریان نه مور ملکه هم خبرېږي او بیا ګیتي ته له کنځلو او سپکو سپورو ویلو روسته په خطاب کې له هغې نه پوښتي:

- شلیطې! له چا نه حامله شوې؟

ګیتي ځواب ورکوي:

- له ولیعهد نه.

چې له دغه ځواب نه روسته پر ګیتي باندې د فحش، کنځاوو او سپکو سپورو باران بیا پیلېږي، پر زمکه یې غورځوي او په سوکانو او لغتو یې ښه ډبوي، روسته بیا په چیغو چیغو ورته وایي:

- ناولې دروغجنې، په ولیعهد تور لګوې، هله ژر کوه ووایه! څوک دی هغه فاسق؟ سپکې نجلۍ ووایه! څوک دی هغه...؟

دا وخت ولیعهد کوټې ته راننوځي او روسته له دې چې ځان مسوول معرفي کوي، د ګیتي لاس په خپل لاس کې نیسي او بېرته وځي.

مور ملکه ډېر ژر د ګیتي د ماشوم سقط کولو امر کوي، خو دا کار چې په ابتدایي وسایلو باندې ترسره کېږي، ګیتي د ناروغۍ له کبله پر تخت بستري کېږي. ما به چې ګیتي په دغسې بد حالت کې لیدله، ځورېدم به او بالاخره یوه ورځ مې خپل اختیار له لاسه ورکړ او د ارنسټ پېرون کوټې ته ورغلم، ورته مې وویل:

- غواړم درسره وغږېږم!

هغه په غوصه راوکتل، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د څه په اړه؟

ومې ويل:

- تاسو بايد وپوهېږئ، که رضاشاه خبر شي چې ګيتي له تاسو نه حامله شوې، نو يوه شېبه به دې هم په دربار کې پرېنږدي، ډېر ژر به دې له دې ځايه وباسي، ځکه هغه ډېر متعصب او سخت ګيره انسان دی.

ارنسټ پېرون له رضاشاه نه وويرېد، رنګ يې د ګچ په شان تک سپين واوښت او دا چې زه د هغه له رازه خبره وم، ډېر غريب ښکاره شو، په چورت کې لاړ او روسته يې ځواب ته خوله جوړه کړه:

- ټول پوهېږي، چې ګيتي له وليعهد نه حامله شوې، اوس نو ته ولې ما پکې ورګډوې؟

- دا ځکه چې کوم څه باندې چې زه پوهېږم، نور نه دي خبر؛ مثلاً ستا لخوا د ګيتي حامله کېدل او د شپې لخوا ستا کوټې ته د وليعهد تګ راتګ.

دې خبرې سره د هغه سپينې وتښتېدې، شونډې يې ورپيدې او د التماس په ډول يې وويل:

- آيا په دې اړه مو بل چا ته هم ويلي؟

- زه هم لکه د دربار ټولو خدمتکارانو په شان ړنده او کڼه يم، له همدې امله ته بيغمه اوسيږه!

- ګوره نجلۍ! ته چې اوس زما له رازه خبره شوې، وايه څه رانه غواړې؟

- غواړم، ګيتي سره واده وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کې لاړ، روسته يې وويل:

- ګيتي ښکلې نجلۍ ده، ما تل دا ويلي چې که داسې ښايسته نجلۍ زما په نصيب شي، نو زه به ډېر نيکبخته شم، خو له بد مرغيه چې هغې سره واده نشم کولای.
- ولې، دليل يې څه دی؟
- وليعهد اجازه نه راکوي.
- هلکه، ځان مه تېر باسه! دا کار په وليعهد پورې څه اړه لري؟
- که زه رښتيا درته ووايم، بيا مې په کراره پرېږدې؟
- هو، ژمنه ده.

ويې ويل:

- ما په سويس کې وليعهد سره واده کړی دی!

د دې خبرې اورېدو سره مې داسې ټکان وخوړ چې ټوله کوټه راباندې وڅرخېده. ما چې رضاشاه په هغې تونده او ويرونکې څېرې ليدلی، هيڅ دا تصور مې نشوای کولی چې زوی يې دومره منحرف شوی وي، په زوره مې وويل:

- دروغ مه وايه! نه نه، دا ناشونې ده، زه يې له سره نشم منلی.
- وارخطا کېږه مه، لږ حوصله وکړه، هر څه اوس درته وايم.

دا چې له مانه بيخي سر او بر ورک و، بيا هم ورته په ټمه شوم چې هغه ټوله پېښه راته بيان کړي.

ارنسټ پېرون وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مخکې له دې چې زه په ښوونځي کې د وليعهد سره په لومړي ځل ووينم، هغه همجنسباز و. د شاه لومړنی عشق د هغه يو ټولګيوال حسين فردوست و چې ښه لوړ او ښايسته ځوان و؛ د دغې مينې شدت دومره زيات و، چې هغه به يې ان سويس ته د ځان سره راووست.

دا چې حسين فردوست تر پردۍ ارادې لاندې خوښ انسان نه و، نو هملته په سويس کې په خپلو زدکړو پسې لاړ او نور يې د وليعهد جنسي تمايلاتو او غوښتنو ته غوږ کېښود چې له همدې امله وليعهد يوازې پاتې شو او بالاخره ارنسټ پېرون چې تازه د ملازم په توګه په ښوونځي کې شامل شوی و، ورسره مخامخ شو.

ارنسټ پېرون پياوړې او نارينه ښه درلوده او کاملاً رضاخان (د وليعهد پلار) ته ورته و. همغه و، چې وليعهد ډېر ژر دا پرېکړه وکړه، تر څو ارنسټ پېرون د جفاکار حسين فردوست ځايناستی وګرځوي.

له دغه کار نه روسته ډېر ژر په ښوونځي کې دا اوازه خپره شوه چې د ايران وليعهد خپل ټول وخت پخپله کوټه کې د يو ملازم سره تېروي او خپل منحرف شوی تمايل سړوي. د دغه کار او اړيکې اوازه بيخي ډېره تته شوه، تر دې چې د پخلنځي خدمتکارانو پورې ورسيده.

دا ناباوري دومره وسعت مومي چې بالاخره د ښوونځي مدير د خپل عزت په خاطر وليعهد خپل دفتر ته غواړي او هغه ته وايي چې ته خو د يو لرغوني هيواد وليعهد يې، ستا هر ډول کړه وړه ستا د ملت په استازيتوب ليدل کيږي، ښه دا ده چې له دغه ناوړه کار څخه لاس واخلې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د ایران ولیعهد په ډېر ارام ډول ځواب ورکوي: (زه اوس اتلس کلن یم، اوس نصیحت ته اړتیا نلرم او چې هر کار وغواړم کوم یې).

بالاخره مدیر پرېکړه کوي چې د هغه سرپرست له دغه حالت نه خبر کړي او همغه وه چې د ولیعهد سرپرست ډاکټر نفیسي او د هغه د فارسي ژبې د ښوونکي مرستیال یې ور وغوښتل (البته دا خبره مرستیال کړې ده) او د ولیعهد او ملازم اړیکه یې ورته په ډاګه کړه. کله چې ډاکټر نفیسي دا خبره واورېده، ټکان یې وخوړ او د ځان سره یې وویل: (د ښوونځي ملازم سره د ایراني ولیعهد ناسمې اړیکې.... اوه زما خدایه..... زما خدایه..... دا ناشونې ده. نه نه ..... دا ډیره بده خبره ده، ډیره شرموونکې....).

بیا یې په لوړ غږ وویل: (ولیعهد لیونی شوی.... دا سپکوالی دی.... ډیره بده ده.... دا انحراف دی).

ډاکټر نفیسي چې پوه سړی و، ډېر ژر پوه شو چې اوس کار له کاره تېر دی او په هیڅ ډول یې مخه نشي نیول کیدای، ځکه دا کار یو رواني لامل لري چې د ماشومتوب پر وخت په وګړي کې رامنځته کیږي او ولیعهد به په هیڅ دلیل قانع نشي چې هغه له دغه سپک کار نه لاس واخلي. روسته په فکر کې ځي چې که له دغه کار نه رضاخان خبر شي، نو پر هغه او کورنۍ به یې داسې بد حالت راولي چې یو به هم ژوندی پرېنږدي. له همدغه امله پرېکړه کوي چې باید ولیعهد د زدکړو پرېښودو ته اړ کړي؛ بالاخره د نفیسي د ډېر فشار له امله ولیعهد خپل تحصیل نیمګړی پرېږدي او حاضرېږي چې بېرته ایران ته راستون شي، خو په یو شرط! هغه هم دا چې ارنسټ پېرون باید د سپورټ ښوونکي په حیث ورسره لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



ارنسټ پېرون چې ډېر مکار او هوښیار انسان و، د یو ترړون لاسلیکولو له مخې ایران ته ورسره ځي؛ په هغه ترون کې د ارنسټ پېرون لخوا مهمه خبره دا وه: (زه ستا عاشق یم او یوازې د دې لپاره ایران ته درسره ځم، چې واده سره وکړو).

ولیعهد چې حیران شوی و، ویې پوښتل:

- آیا داسې هم کیدای شي؟

ارنسټ پېرون ولیعهد ته وایي: (ولې نه، سم لکه دلته په اروپا کې چې شوني دي، دوه علاقمن همجنسه کسان، چې یو یې کشیش دی او د هغه لخوا وړاندیز کیږي چې دواړه واده سره وکړي او د مېړه او ښځې په شان یو د بل سره واوسیږي).

همغه و، چې د ژنېو او لوزان ښارونو تر منځ کلیسا کې همجنسباز کشیش، ولیعهد د یو کالج ملازم ارنسټ پېرون ته ور واده کوي او د دواړو نکاح تړي، چې له مخې یې ارنسټ پېرون خاوند او شاه (ولیعهد) مېرمن وګرځېدل.

پر همدغه اساس د ایران ولیعهد د خپل قانوني مېړه سره ایران ته راستون شو.

همدا یې کیسه وه، چې بیا بل وخت د ګیتي د بلاربتوب له امله دا راز افشا کیږي او د مېرمن مریم لخوا په ډاګه کیږي. چې د مریم دا اطلاعات له ډاکټر نفیسي او مستشار نه روسته، تر نورو بشپړ اطلاعات دي.

یو وخت رضاخان د لمسي هوس کوي او بالاخره فوزیه سره د محمدرضا د واده بندوبست او ترتیبات نیسي. لنډه دا چې واده په ډېر شاندار ډول تر سره کیږي او له نکاح روسته د واده شپې د مراسمو په خاطر د مرمرینې ماڼۍ په لوړ چت کې یوه کوټه په پام کې نیول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مريم وايي: (زه چې د وليعهد له جنسي کمزورۍ او انحراف نه خبره وم، نو زړه مې ډېر غوښتل، تر څو وليعهد چې له سره يې ځانته ښځه نه ده ورپرېښې او تل مې د ارنسټ پېرون سره ليدلی دی، هغه به فوزيه سره څنګه مخامخ کيږي؟ د همدې لپاره په ماښام کې د همغې کوټې څنګ ته بله کوټه کې پټه شوم او له دننه مې دروازه کولپ کړه. د شپې روستۍ شيبې وې چې زوم او ناوې هغې کوټې ته ورننوتل؛ د دواړو کوټو تر منځ ديوال کې يوه دروازه وه، د دې لپاره چې اوس څه پېښېږي، يوه څوکۍ مې تر پښو لاندې کېښوده او د هغې دروازې پر سر شيشې نه مې ور وکتل.

فوزيې د واده جامې اغوستې وې او د کوټې په منځ کې ولاړه وه، په تمه وه چې وليعهد به د واده د شپې شيريني ورکوي، خو هغسې ونشول، فوزيې وليعهد ته وکتل، هغه لا همغسې پر خپل ځای ولاړ و او هغه هم په داسې بڼه، لکه وچ لرګی چې نه غږ ترې خوت او نه يې حرکت کاوه. فوزيه لږ نوره هم په تمه شوه، خو زياته نه، روسته يې غږ پرې وکړ:

- آه، ولې د بت په شان ولاړ يې؟ راځه کنه!

دې خبرې سره وليعهد ور وړاندې شو، فوزيه يې له لاسه ونيوله او تخت ته يې بوتله، همدې سره د کوټې څراغ ګول شو او بيا ورپسې ډېر ژر، وليعهد تشناب ته د تلو په پلمه له کوټې ووت.

که څه هم کوټه کې تياره وه، خو زه دا ګمان کوم، هغه څوک چې بيا کوټې ته راستون شو، ارنسټ پېرون نه پرته بل څوک نه و.

په ۱۳۱۹ل کال کې فوزيې شهناز وزيږوله، د هغې د سترګو رنګ د شهدو غوندې و، چې د ارنسټ پېرون هم همدغسې و. دغه راز د شهناز د وېښتانو رنګ د پېرون د کورنۍ د وېښتانو په شان، په سر کې طلايي او ورو ورو د عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتېدو سره لکه د پلار يې (ارنسټ پېرون) خرمايي شول. په عمومي توګه شهناز ارنسټ پېرون ته دومره ورته وه، چې که په يو مجلس کې دواړه څنګ په څنګ ناست وای، نو شباهت به يې ريښتيا هم ناست خلک حيران کړي ول.



آيا دا د محمد رضا شاه پهلوي لور ده که د سويسي ارنسټ پرون؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دربار کې تر ټولو مخکې اشرف له دغه راز نه خبره شوه او سمدلاسه یې هڅه وکړه، تر څو داسې یو سند تر لاسه کړي چې د وخت پر ولیعهد یعنې راتلونکي شاه باندې ټول عمر واکمنه وي، چې بیا بریالۍ هم شوه.

شهناز هم روسته بیا له دغه راز نه خبره شوه، له همدې امله یې څښاک (شراب) ته پناه یووړه او دومره یې ځان پکې ډوب کړ، چې هره ورځ یې دوه بوتله ویسکي څښل او بیا په دغو لنډو روستیو کې په هیروینو او نورو مخدره توکو هم اخته شوې وه.

ډیر ژر دویمه نړیواله جګړه نښتي، انګلیس د خپل نوکر رضاخان مخه نیسي، هغه له هیواد نه وباسي او پر ځای یې د هغه شنډ او همجنسباز زوی پر تخت کښېنوي. خو په حقیقت کې محمدرضا چې د خپل پلار رضاخان پر ځای واک ته رسیدلی و، پاچا نه و؛ بلکې اصلي پاچا ارنسټ پېرون و، چې ټولې چارې یې کنټرولولې او بیا په شاه کې یې نفوذ هم د پام وړ دی.

کوم درناوی چې درباریانو ارنسټ پېرون ته درلود، هیڅ مخینه نه لري او ارنسټ پېرون (د ښوونځي پخوانی ملازم) هم د دغو ټولو په قدر ښه پوهېد؛ خورا ماهر لوبغاړی و، حتا پخپلو جادویي خبرو یې د دربار نجونې او ښځې غولولې او د خپل خوب کوټې ته یې بوولې.

ارنسټ پېرون له دومره هوښیارۍ سره سره ډیر بې باکه هم و، مېرمن مریم وایي: یوه شپه یې شاه ته د شرابو صفت کاوه، ویل یې:

- وخوره، چې عقل دې له ماتحت نه مغزو ته درشي!

او یا یوه ورځ چې شاه د هغه له خوښې پرته یو کار وکړ، ورته یې وویل:

- ته د مغزو پر ځای دې د خپلې خیټې په مرسته فکر کوې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارنسټ نه يوازې د شاه او حکومت هرکاره و، بلکې د شاه لخوا يې د فوزيه د مېړه رول هم لوباوه. بله دا چې فوزيه هم دومره ډېره ورسره روږدې شوې وه، چې حتا تصور يې هم نشي کيدای. خو دا چې پېرون د نورو ښځو سره سور شوی و، فوزيې ته يې هيڅ وخت نه شوای موندلی؛ يوه شپه يې چې ډېر شراب هم څښلي ول، مريم ته وايي:

- د مېرمن فوزيه دوسيه مې د زړه راکدې (بې ساه) ذخيرې ته واچوله.

مريم زياتوي، يوه ورځ فوزيه د زړه خواله راسره کول، ويې ويل:

- ارنسټ پېرون سره ډېره خوشحاله وم، خو اوس دا احساسوم چې هغه به د تل لپاره له لاسه ورکړم، له دې امله دلته زما پاتې کېدل ناسم دي.

رښتيا هم څه موده روسته فوزيې طلاق واخيست او له ايران نه ووتله.

په دې پسې ثريا راځي او په دربار کې د شاه او ثريا د واده مراسم تر سره کيږي؛ د واده له مراسمو روسته زوم او ناوې خپلې کوټې ته ځي، خو دا چې شاه پخپله هيڅ نشوای کولی او غوښتل يې چې ياده دنده ارنسټ پېرون ته پريږدي، خو هغسې ونشوه؛ ځکه چې د ثريا کورنۍ بختياري وه او له هر څه نه خبرېدله، بيا يې نو دا راز پټ نشوای پاتې کيدلی، نو له ناچارۍ نه يې ثريا ته په دروغو خوله خلاصه کړه:

- د ۱۳۲۷ کال د سلواغې ۱۵ نيټې هغه بريد چې د تهران په پوهنتون کې پر ما وشو، له همغه امله مې جنسي ځواک له لاسه ورکړی دی.

ثريا چې د يوې درنې او لويې کورنۍ لور وه، شاه ته يې قول ورکړ، چې هيڅ پروا نلري او هيچا ته به په دې اړه څه ونه وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته شاه خورا ډېره تمه درلوده چې ارنسټ پېرون به ډېر ژر ثریا سره نزدیکت وکړي او د ده ورسپارلی کار به په سمه توګه تر سره کړي. خو هغسې هيڅ ونشول، ثريا بيخي اجازه ورنکړه چې هغه محضې هم بې عزتي ورته وکړي.

يوه ورځ مريم ته ثريا داسې ويلي ول:

- ارنسټ پېرون د خبرو کولو لپاره بيخي ماشومانه او سپک خوی غوره کوي، چې د بنيادم زړه ورسره ماتيږي.

ثريا اوږده موده په دربار کې دننه، يوازې په يوه ځانته کوټه کې په دې تمه تېره کړه، چې شاه د يادې پېښې له کبله خپل نارينتوب له لاسه ورکړی دی او بايد له ناچارۍ نه همدغسې ژوند ته دوام ورکړي. خو کرار کرار هغه هم شکونو پرېښودله او ويې ليدل چې ارنسټ پېرون وخت ناوخت د شاه هغې کوټې ته ورځي، چې هيچا ته هلته د ورتګ اجازه نشته. سربېره پر دې ځيني راپورونه هم ورته رسيدلي ول، چې بالاخره پر دغه راز باندې د پوهېدو لپاره پرېکړه کوي، چې بايد د دغه مرموز ديګي سرپوښ لېرې کړي، تر څو ووينې چې څه پکې دي. نوره کيسه پخپله ثريا يوې نزدې ملګرې ته داسې کوي:

- زه تل شکمنه وم، چې ارنسټ پېرون ولې زما د مېړه (شاه) کوټې ته ډېر ځي راځي او بيا به مې ځان سره ويل: (هغه ولې زما د مېړه کوټې ته ورځي، هغه د شاه سره څه کار دلودلی شي؟ همدا چورتونه ول چې مودې مودې يې زما ذهن اشغال کړی و او ورځ تر بلې يې زما شکونه ډېرول. يوه ورځ خو بايد خبره شوې وای، په همدغه دليل مې يوه شپه هڅه وکړه، چې په پټه د مېړه کوټې ته ورشم، دننه ورنغلم، خو د دروازې د کيلي له سوري نه مې دننه وروکتل، وای خدايه! هلته ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ولیدل....؟ د ایراني ملت پلار او زما تاج لرونکی مېړه مې چې په ..... حالت کې ....

د یوې شپې لپاره لکه فلج چې شم، هیڅ حرکت مې نشوای کولی، سترګو ته مې د اور شغلې تاوېدلې، داسې مې احساس کړه لکه توده او سړه غوندې چې شم. نور نو څه پاتې نه ول، هر څه توفان تالا والا کړل، بېرته خپلې کوټې ته راغلم شاوخوا مې وکتل، داسې مې انګیرله، لکه د یو څو شیبو لپاره چې لیونۍ شوې یم، بیخي بل ډول حالت و.



تصویری از عروسی شاه و ثریا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثریا سبا ته خپل بیګ تړي او پرته له دې چې شاه ته خبر ورکړي، په مات زړه له غم او نهیلۍ ډکه، په همغه لومړني الوت (پرواز) کې جرمني ته ځي.

روسته بیا ثریا له جرمني نه شاه ته تلیفون کوي، وايي:

- دا چې ما هر څه په خپلو سترګو ولیدل او ستا پر سپک او غیر انساني عمل باندې وپوهېدم، نور نه غواړم ستا ناولی مخ ووینم، ژر زما طلاق لیک راوستاوه.

شاه چې کله ویني، چې عزت یې په خطر کې دی او دلته یې د مختلفو دلایلو له مخې نه غوښتل، ثریا ته طلاق ورکړي، نو په بیړه یې د سنا رییس صدرالاشرف جرمني واستاوه، تر څو په هر ډول او هر قیمت چې کیږي، باید ثریا راضي کړي او بېرته یې ایران ته راولي؛ خو د ثریا احساساتو دومره ضربه لیدلې وه چې په هیڅ ډول راضي نشوه او صدرالاشرف تش لاس بېرته راستون شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځل شاه د ثريا تره (کاکا) سناتور ايلخان ظفر ته کښېناست او هغه يې د ګڼو سپارښتنو سره جرمني ته واستاوه. ثريا د خپل تره سره ټول جريان شريک کړ، خو تره يې سره له دې چې په حقيقت پوه شو، بيا يې هم هغې ته وويل چې بايد بېرته ستنه شي او شاه سره دې په ظاهره خپل مېرمنتوب وساتي، خو په پټه دې د خپل قومي يو بختياري سره واده وکړي، تر څو د ايران راتلونکی وليعهد يو بختياری وي.

اما ثريا دغه سپک کار ته غاړه کېنښوده او شاه ته يې پيغام راواستاوه، چې ژر تر ژره دې طلاق ليک ور وليږي، ګڼې ټولو جريدو او رسنيو سره به د مرکې له لارې د هغه ټول واقعيت نړۍ ته په ډاګه کړي.

شاه پوهيږي چې هغه له خپلې خبرې نه اوړي او يو غټ اخلاقي ګواښ سره مخ دی، نو ډېر ژر طلاق ليک چمتو کوي او ثريا ته يې ور استوي، خو په دې شرط چې بايد تر عمره پورې دا راز پټ وساتي او د دغه شرط (حق السکوت) په بدل کې به هره مياشت لس زره ډالر ورکوي؛ چې البته روسته بيا شتېرن مجلې يو راپور خپور کړ چې پکې دا بيه دوه برابره ښودل شوې وه، يعنې هره مياشت د ايران له دربار نه ۲۰ زره ډالر هغې ته ورکول کېدل او بيا دوه زره ډالر د ماليې په توګه د جرمني دولت ترې ګرځول.

اوس به ښه وي چې د (ثريا خاطرات) په نوم کتاب ته لږ ور وګرځو، ووينو چې په دغه کتاب کې څه ويل شوي دي. ثريا په دغه کتاب کې ليکلي دي:

> ښاغلی ارنسټ غربی و او د سويس هېواد پورې يې تعلق درلود، چې درباريانو به هغه د ايران راسپوتين باله. دا کس لومړی د يو ښوونځي ملازم او باغوان و، چې شپه او ورځ به هملته اوسېد. کله چې شاه سره هلته مخامخ شو، نو بيا يې د خپلو تحصيلاتو تمامولو نه روسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران ته راووست. سره له دې چې رضاخان سختدریځه و او بهرنیان یې دربار ته دننه نه پرېښوول، خو په استثنایي توګه یې دا یو د ولیعهد په خاطر پرېښود.

ارنسټ پېرون بیا هیڅ وخت خپل هېواد ته ستون نشو، کوم رسمي پوسټ یې هم په دربار کې نه درلود، یوازې د شاه ځانګړي ملګري په توګه هلته کښېناسته او پورته کېد. سره له دې چې یو نالوستی سړی و، خو په دربار کې شاه ته تر ټولو نزدې شخص همدی و او په حقیقت کې د شاه مخصوص سلاکار و.

هره ورځ به د شاه کوټې ته ورته، هیڅوک سم نه پوهېدل چې دغه سړی د شاه د خوب کوټه کې څه کوي، هلته څه کار لري چې په زغرده ځي او راځي؟ سره له دې چې نالوستی هم و، خو ځان یې ډېر هوښیار ښود او پخپله به یې د فیلسوف خطاب ځانته کاوه.

له دغو مسایلو ورهاخوا، د شاه او د (امریکا او انګلیس) د سفیرانو تر منځ د اړیکي مهم ممثل و، مخکې له دې چې زه دربار ته ننوځم، هغه په مرموز ډول مصدوم شوی و او یوه پښه یې له کاره لوېدلې وه؛ درباریانو په خپلو کې سره ویل چې هغه یې مسموم کړی و او له همغه امله یې پښه داسې شوې ده.

کله چې زه د ایران ملکه شوم او دربار ته ننوتم، نو ډېره هڅه یې وکړه چې زما او د شاه د کورواله په اړیکو او داخلي چارو کې دخالت وکړي، زیاتره وخت به زما کوټې ته راته او غوښتل یې چې د جنسي چارو (هغه اړیکې چې په هیڅ ډول یې هغه پورې اړه نه درلوده) په اړه ډېر محرمانه موضوعات راسره مطرح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه شپه یې دغو خبرو حوصله راتمامه کړه، ورته مې وویل: (ښاغلی پېرون! دا مه هېروه چې ستا په مخکې څوک ولاړه ده، دا خبرې دې ډېرې شرموونکې دي، چې ښه پایله به ونلري او بل زموږ اړیکې پر تا پورې هیڅ اړه نلري). سړی چوپ پاتې شو او ورو ورو یې ځان شاته وویست.

یوازې زه د هغه موخه او ښکار نه وم، بلکې په دې هڅه کې و، چې د شاه په خویندو کې هم د نفاق ناروغي ګډه کړي. یوه ورځ به یې شمس سره ځان سور کړی و، بله ورځ به یې اشرف سره؛ هیڅ وخت څوک نشوای پوهېدلی چې هغه د چا پلوی دی او په رښتیا سره څوک ورباندې ګران دي.

ټاکلې وه چې په ۱۳۲۹ کال کې واده وکړم چې د واده جامې مې هم کریسټین ډیور راته چمتو کړې وې، خو زما د ناروغېدو له امله موږ د سلواغې په ۳۰مه واده وکړ او بیا مې د ۱۳۳۷ کال د سلواغې په ۲۱مه ایران ترک کړ او روسته بیا شاه زما طلاق لیک راواستاوه.

دا هغه ټولې خبرې دي، چې ثریا پخپله لیکلي او بیا د اروپا د وخت په ټولو جریدو کې خپرې شوې دي. ثریا هغه څوک وه، چې پوره ۷ کاله یې د ایران په دربار کې تېر کړي او بیا یې له طلاق نه روسته هم هره میاشت ۱۰ زره ډالر (وروسته بیا ۲۰ زره ډالر) د خپل حق السکوت په بدل کې اخیستل او بله دا چې هغې د ژوند تر پایه د مېړه کولو حق نه درلود، ځکه چې که هغې مېړه کړی وای او بیا یې اولاد زیږولی وای، نو طبعاً هر څه رسوا کېدل او د شاه په شنډتوب باندې ټول پوهېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د فرح په اړه څه ويل شوي؟**

اوس به ښه وي چې د شاه د ژوندانه پر يو بل اړخ چې فرح سره تړاو لري، يوه کتنه ولرو او ووينو چې ليکوالان په دې اړه څه وايي.
دا او ځينې باندينۍ جريدې خصوصاً امريکايي جرايد دا وايي چې وليعهد د شاه حقيقي زوی نه دی او که په ځواب کې يې دلته داسې وويل شي چې د دواړو د څهرو ورتوالی او مشابهت دومره دی چې هر ډول تهمت او تور لګول ناشونې کوي، دغه راز د وليعهد د مخ فورم، د سترګو او پوزې بڼه دومره د شاه صورت ته ورته دي چې دغه تورونه يو ډول مغرضانه ښکاره کيږي.
خو مدعيان يې بيا هم چوپ نه دي پاتې، په ځواب کې يې وايي چې وليعهد هومره شاه ته ورته والی نه لري، لکه څومره چې د فرح پخوانې کوژدن ته، چې ايران ته ورسره راغلی و او په هغې ټوله موده کې يې د شاه د مخصوص دفتر د مشر يا رييس په توګه دنده درلوده. همدارنګه د شاه نور اولادونه چې ټول کريم پاشا بهادري ته ورته ول، نشي پټيدلی.
ښه ده چې د دغو ليکوالانو او په پاريس کې د فرح د تېرو دوستانو له قوله يې را واخلو او د دغو ټولو نظرياتو پايله بيا د لوستونکو مخې ته کېښږدو.
لومړی بايد وپوهېږئ چې فرح د يوې دريمې طبقې کورنۍ لور وه، يعنې پلار يې خسرو ديبا او مور يې فريده قطب نومېدل. پلار يې په ځوانۍ کې د سرطان ناروغۍ له امله مړ شو (فرح د پلار د مړينې پر وخت ٦ کلنه وه)، فريدې خپله لور تهران ته راوسته او هلته يې خپل ورور ته وسپارله؛ پخپله تبريز ته لاړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته يې د پکچي نومي سوداګر په کور کې د پرستارۍ او خدمتکارۍ پر دنده پيل وکړ، چې روسته بيا دا دنده په درزيتوب يا خياطۍ بدلوي.

فرح د خپل ماما کره ښه روزل کېږي، په همغه کوچنيوالي کې يې د ايټالويانو په يو ښوونځي کې شاملوي او تر لس کلنۍ پورې هلته زدکړې کوي، په دغه سن کې بيا هغه د ژاندارک ښوونځي ته ځي او بيا متوسطه دوره د تهران په رازي ښوونځي کې بشپړوي. له څه مودې روسته ماما يې پاريس ته استوي او هلته فرح د دوو کالو په موده کې د طراحۍ او نقاشۍ هنر زده کوي.

د فرح د هغه وخت يوه ټولګيواله او ان د کوټې ملګرې يې ناهيد، چې اوس د يو فرانسوي مېرمن ده، داسې وايي: فرح مخکې له دې چې اوسني شاه سره واده وکړي، يو کوژدن يې درلود چې کريم پاشا بهادري نومېد.

دغه کوژده د ۱۳۳۸ کال د دوبۍ په روستيو کې ترسره کېږي چې په دغو ساده مراسمو کې د پاريس مېشت ځيني ايرانيان او د فرح ټولګيوال ګډون کوي. دا وخت فرح ۲۱ کلنه او کريم پاشا بهادري ۲۳ کلن دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



له ایران نه د ثریا له تلو روسته، هغه څوک چې د ایراني شاه نوي واده ته تر نورو ډېر په فکر کې و، د فري ماسونري (د پټې ملګرتیا ټولنه – په ۱۳مه زیږدیزه پېړۍ کې رامنځته شوه) سازمان و، چې په ایران کې یې د ریاست دنده د جعفر شریف امامي پر غاړه وه او له همدغه امله د ایران د فریماسونري لوړ رتبه غړي هرې خوا ته په هڅه کې شول، تر څو د دریمې طبقې کورنۍ یوه داسې مناسبه نجلۍ پیدا کړي چې خپلو پخوانیو پلانونو او پروګرامونو ته هم غاړه ورکړي.

البته دوی داسې دلیل رامخې ته کوي چې په تېر کې هم دغسې نجونې د اروپایي پاچاهانو د ملکو په توګه ټاکل شوي او منل شوې دي. له دې ډلې (دوپاري) په اتلسمه پېړۍ کې، (لال کاس) په اوولسمه پېړۍ کې، (مارین دولورن) په شپاړسمه پېړۍ کې، (امپریا) په څوارلسمه پېړۍ کې او (فلورا) د روم په جمهوري کې؛ چې همدغه د دریمې طبقې نجونې توانیدلي چې له درباري ښځو نه په ښه توګه د یوې ملکې کار واخلي.

هغه بده خاطره چې دوی له ثریا څخه درلوده، دا وه چې په هېڅ ډول ارنست پېرون ته تسلیم نشوه او په داسې چا پسې ګرځېدل، چې اصلیت یې نه درلود او د شاه ناولو غوښتنو ته یې غاړه اېښودله.

ډېر ژر دا غوټه خلاصیږي او په پاریس کې اردشیر زاهدي د یوې مېلمستیا پر مهال فرح سره ویني او د دغه جریان خبر شاه او د فریماسونونو مشر جعفر شریف امامي ته رسوي. شاه په نالیدلې توګه هغه خوښوي او ډېر ژر د شاه او فرح د کوژدې خبر هرې خوا ته خپریږي. د شاه او فرح له واده روسته، د فرح مخکنی کوژدن هم ورسره ایران ته ستنیږي او داسې حدس کیږي، چې فرح له

(c) ketabton.com: The Digital Library



واده نه مخکې شاه ته په دې اړه یادونه کړې وه، چې له واده روسته به هغه د ځان سره دربار ته بیایي.
البته ځیني بیا دا قضیه بل ډول بولي، وایي چې کریم پاشا بهادري چې د شاه سره یې زیات مشابهت درلود او له ۱۰۰۰ کورنۍ ځخه و، له مخکې نه د پلان شوې پرېکړې له مخې هغه فرح ته نږدې کېږي او له کوژدې روسته د کار مقدمات ورسره برابروي؛ په دې معنا چې هغه له مخکې نه د شاه له لوري دا ماموریت درلود، تر څو دا کار تر سره کړي او له همدغه امله لکه د بخت مارغه د فرح پر سر کښیني او بیا د هغې د مینې او محبت خپلولو نه روسته، نور پلانونه داسې ترتیبوي چې تاسو ټول ترې خبر یاست.
فرح د ۱۳۳۸ل کال د لیندۍ په ۲۹مه شاه سره واده کوي او له واده نه یوه میاشت روسته بیا خپل پخوانی کوژدن کریم پاشا بهادري د ځانګړي دفتر د رییس په توګه دربار ته بیایي.
باید ووایم چې پخوا په دربار کې (د ملکې د مخصوص دفتر رییس) په نوم کوم پوسټ نه و؛ نه هم ملکې فوزیه او نه هم ملکې ثریا د مخصوص دفتر رییس درلود. دا پوسټ یوازې او یوازې د ملکې (فرح) لپاره رامنځته شو، تر څو د هغوی پر اړیکو یو سرپوښ کېښودل شي. البته دلته باید لږ ځیر شئ، د هغې نجلۍ چې شاه سره یې د واده

(c) ketabton.com: The Digital Library





اردشیر زاهدی

يوه مياشت وتلې، څنګه ژر يې فکر ته ورلوېږي، چې ځان ته يو مخصوص دفتر ايجاد کړي او خپل پخوانی کوژدن د دغه پوسټ مشرۍ لپاره وټاکي؟!

فرح د ۱۳۳۸ل کال د سلواغې په لومړيو کې کريم پاشاه بهادري (خپل پخوانی کوژدن) چې اوس د مخصوص دفتر رييس دی، دربار ته بيايي او همغه وه، چې پوره نهه مياشتې او نهه ورځې روسته د ۱۳۳۹ل کال د لړم په نهمه وليعهد دنيا ته راوړي او د ايران ملت ته زيری ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کریم پاشا بهادری
وزیر اطلاعات و جهانگردی



رضا شاه پهلوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه نور له هر څه بيغمه کيږي، ځکه کريم پاشا خپله او د هغه دنده پر مخ بيايي، تر هغو چې څلور اولادونه د شاه په نوم دنيا ته راوړي چې بالاخره د څلورم اولاد په زيږولو سره يې دا دنده پای ته رسيږي او له همدې امله يوه ورځ شاه هغه ځانته ورغواړي او ورته وايي: (تاسو ځوان او مجرد ياست او له شغلي پلوه هم د ملکې فرح سره په اړيکه کې ياست، نور نو بايد مجرد پاتې نشئ، په کار ده چې ژر تر ژره واده وکړئ!).

کريم هم د شاه خبره مني، ډير ژر لاس په کار کيږي او د ۱۳۴۶ل کال د ايران ښايسته او وړ نجلۍ (شهلا) سره چې د ښاغلي وهاب لور وه واده کوي. البته دا واده هم له مخکې نه داسې ترتيبيږي چې کريم بايد له يوې نامتو او مشهورې نجلۍ سره واده وکړي، تر څو ځينې اوازې چې په بهر کې خپرې شوې دي، پرې له منځه لاړې شي.

له درباريانو نه يو تن ويلي: شهلا سره د کريم له واده روسته، بيا فرح ښه ورځ ونه ليده او طبيعي ده چې کله د هغې واقعي مېړه چې د کورواله ټول کارونه يې ورسره کول، که چېرته بلې ښځې سره واده وکړي، نو خامخا د فرح فکر خرابيږي.

له څه مودې روسته شاه او فرح دا جوته کړه چې نور په دربار کې د کريم پاشا شتون ته اړتيا نشته (ځکه چې کريم خپله دنده ښه ترسره کړې وه او څلور اولاده يې د شاه لپاره ذخيره کړي ول). نو دا يې ښه وګڼله چې د هر ډول احتياط له پلوه بايد کريم تر يوې مودې پورې له دربار نه لېرې وساتل شي، تر څو د هغه شتون په دربار کې شکونه ونه زيږوي.

له همدغه فکر نه روسته د شاه په دستور کريم پاشا (د کرج فلاحتي ښوونځي فارغ) د هويدا په کابينه کې د اطلاعاتو او ګرځندوی وزير په توګه وګمارل شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه هم د خپلې ورسپارل شوې دندې په بدل کې د انعام تر لاسه کېدو په توګه دربار پرېښود او نوې دنده یې پیل کړه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د کریم له تلو روسته، شاه او فرح په دې خاطر چې خلکو ته فریب ورکړي او عوام غافله وساتي، نوموړې اداره یې منحل نکړه، بلکې د مشرۍ څوکۍ ته یې د هوشنګ نهاوندي په نوم یو بل تن راوست او اړونده دنده یې ورته وسپارله.
اوس نو تاسو پخپله د دغو دواړو کسانو مشخصاتو ته، توجه وکړئ چې یو بل پسې د فرح د خاص دفتر ریاست ته رسیږي. یو- کریم پاشا بهادري، ۲۳ کلن، د کرج فلاحتي ښوونځي دیپلوم (فارغ) او د فرح پخوانی کوژدن. دوهم- هوشنګ نهاوندي، د تهران پوهنتون د حقوق او اقتصادي علومو لېسانس، له پاریس نه د حقوق ډاکټرا، د اروپا په مشترک بازار کې د ایران استازی، د ښارجوړوني وزارت د خارجي اړیکو رییس او د شیراز پهلوي پوهنتون رییس.
اوس دا پوښتنه مطرح کیږي چې د فرح له واده نه یوازې یوه میاشت روسته د ۱۳۳۸ ل کال په سلواغه میاشت کې په ډېرې اسانۍ سره ۲۳ کلن زلمی او د کرج فلاحتي ښوونځي فارغ کریم پاشا، چې د اداري مدیریت وړتیا یې نه درلوده او د خدمت هیڅ ډول مخینه یې هم نه وه، ولې یوه لوړه اداره په واک کې ورکړل شوه او د زیات نزدېکت لپاره هغه د فرح د خاص دفتر د رییس په توګه وګمارل شو؟
څه موده ووته، خو روسته فرح ته دا احساس ورپیدا شو چې نور نو د خپل ګران کریم جدایي نشي زغملی او همغه وه، چې د ۱۳۵٦ل کال د لړم میاشتې په ۱۵ نیټه، کریم بېرته د دربار سلاکار وزیر په توګه یو ځل بیا خپل اصلي کور ته راستون شو.
آیا دا ډېره حیرانونکې او مسخره کوونکې نه ده چې د کریم پاشا په شان بې تجربې سړی د همغه وخت لومړي وزیر هویدا د سلاکار په توګه وټاکل شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې تاسو ته د دغو پېښو شرحه له مختلفو کتابونو څخه راخیستل شوې، نو بده به نه وي چې ځینو مجلو سره پخپله د فرح د مرکو ځیني برخې هم راواخلو.

د یوې فرانسوي مجلې د خبریال پوښتنې ته، چې له هغې نه د شاه د ریبارۍ په اړه وه، فرح په ځواب کې وایي، خو لومړی باید د خبریال پوښتنه هم ذکر شي:

خبریال: اغلې ملکې! له ټولو خبرو او مطالبو روسته چې ستاسو او د شهنشاه د خارق العاده ریبارۍ په اړه خپاره شول، کولی شئ تاسو پخپله په دې هکله معلومات ورکړئ، د دغې ریبارۍ جزیات او بیا نورو ورځو کې ستاسو غبرګون څه و او هغه پېښې او لاملونه چې بالاخره د ۱۳۳۸ل کال د لیندۍ میاشتې په ۲۹ نېټه ستاسو د واده سبب شول، څه څه ول؟

فرح: ما چې د اعلیحضرت سره واده کاوه، ۲۱ کلنه وم، په پاریس کې محصله وم او دا فکر مې هم نه کاوه چې د خپلو زدکړو له تمامولو مخکې به زه واده کوم، ان د یو مکمل مېړه یو روښانه انځور مې هم په خپل ذهن کې نه و رسم کړی.

فرح زیاتوي: یوازې دومره فکر مې کاوه، چې زما خاوند باید د شخصیت، پوهې او ځیرکۍ له پلوه تر ما لوړ وي. دا چې اعلیحضرت له مانه څنګه ریباري وکړه، تاسو ته څه نشم ویلی او دا زموږ تر منځ یو راز دی!

اوس پام وکړئ، چې فرح د قاهرې چاپ ورځپاڼې سره په مرکه کې څه وایي:

پوښتنه: شهنشاه سره مو په واده کې تاسو هم اغېز درلود؟

فرح ورته خاندي وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په رښتيا سره نه، شايد يو تصادف وي، خو زما په اند، شهنشاه په دې اړه او له څو کالو ولسمشرۍ روسته ځانته افکار درلودل، چې بايد هغو ته يې تحقق وربخښلی وای.

دا چې هر وخت مختلفې شايعې خصوصاً په اروپا کې پر ژبو باندې وې او زياتره کارکوونکو له شاوخوا نه څه ناڅه اورېدلي ول، نو شاه د دغو شايعو او اوازو د خنثا کولو لپاره پريکړه کوي چې ځان د عوامو پر وړاندې يو حرفوي ښځپاله (زنکه باز) انسان وښيي او له همدې امله د ډلييزو رسنيو په مرسته او له وړاندې نه د يوې چمتو شوې نقشې له مخې په دې هکله ګڼ تبليغات ترتيبوي، چې که دلته يې ځينې برخې شريکې شي، پر موضوع به مو لا سر خلاص شوی وي.

پر ١٣٥١ل کال په تهران کې يو ځل اوازه شوه چې شاه غواړي، له يوې پيغلې نجلۍ سره واده وکړي، تر دې چې د (زن روز) مجلې خبريال په منډه تر فرح پورې ځان رسوي او هغې سره مرکه کوي (ښه نو، د سانسور په هغو شرايطو کې د زن روز په مجله کې څنګه دا ډول مطلب خپرېږي چې په راز يې يوازې شاه، فرح او کريم پاشا خبر وي):

- پوښتنه: اغلې ملکې، دا چې اعليحضرت همايوني غواړي د يوې نجلۍ سره واده وکړي، تاسو خفه نه ياستئ؟

اوس ګورئ، فرح چې پخپله له ولسي جرګې نه د کورنۍ د ملاتړ قانون د تصويب مسووله وه، څه ځواب وايي:

- ځواب: ولې خفه اوسم، د اعليحضرت پلار لکه چې درې ښځې نه درلودې، اوس نو څه توپير لري چې اعليحضرت همايوني هم دوه ښځې ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته روسته بیا دا څرګنده شوه چې دا جریان یو ځانګړی تبلیغاي مانور و.
له دغو مسایلو نه یوه بله، چې د دغو انحرافي تبلیغاتو مختلف اړخونه څرګندوي، دا ده چې په بهرنیو مطبوعاتو کې د راپورتاژ په توګه په وار وار راغلي چې د ایران شاه د بهرنیو نامتو او مشهورو هغې او دغې هنرمندې سره اړیکې لري. آیا نور پاچاهان خپل شهوات نه سړوي؟ آیا څوک د هغوی له اړیکو خبرېږي؟ آیا د عربستان او کویټ پاچاهان او پاچازیان چې په عیاشۍ او ښځپالۍ کې نوم لري، تر اوسه د هغوی له جنسي کړنو څوک خبر شوي؟ آیا څوک پوهېږي چې تر اوسه د سینما څو نامتو هنرمندانې د شهزاده فهد خدمت ته حاضرې شوي دي؟ .... او دا چې په اروپایي مطبوعاتو کې دا مطالب خپرېدل، علت یې دا و، چې پخپله د شاه لخوا دا پلان جوړونه تر سره کېده، تر څو موضوع په یو ځای کې چاک پیدا کړي او پر شنډوالي یې سرپوښ کېښودل شي.
همدا بسنه کوي چې له دغو مواردو یوازې یو مورد چې په ټاکلي وخت **(هغه** هم په یوه ورځ**)** کې د نړۍ د څو ورځپاڼو له لارې په هامبورک، انکارا، پاریس، لندن او نیویارک ښارونو کې چاپ او نشر شو، یاد وکړو**!**

(c) ketabton.com: The Digital Library




Was der Schah mit der schönen Sufi hat

Sufi, die 21jährige Schah-Freundin

اوس باید ژور فکر وشي، د ایران شاه چې ښځه او څلور زامن لري، د نړۍ ټولو جرایدو ته **د** (ایران د شاه معشوقه) په نوم د مطلب له استولو نه یې هدف څه دی؟

همدارنګه دا ادعا، چې د مانۍ د زندان پخواني رییس(سرهنګ صوفي) **لور** (مېرمن صوفي) چې اوسمهال د فرح خدمتکاره ده، د هغه معشوقه ده، څه **معنا؟**

که چیرې دا خبره رښتیا وې، ولې فرح بیا روسته مېرمن صوفي له خپلې خدمتکارۍ څخه لیرې نکړه؟ او دغه خبر یا مطلب، هغه هم په یو وخت کې په څه ډول بهر ته ورسېد او په ټولو امریکایي او اروپایي مجلو او ورځپاڼو کې چاپ شو؟ آیا دغه مطلب په بهر کې د ایران د سفارتونو مامورانو په یو وخت کې مطبوعاتو ته نه و سپارلی، تر څو شاه پر خپل شنډتوب یا جنسي کمزورۍ سرپوښ کېښېږدي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوې بلې ماهرانه او پلان شوې لوبې ته هم پام وکړئ چې د جرمني په مجلو کې رابښکاره شوه:



Der Schah lud deutschen Busenstar in den Kaiser-Palast ein

کارین شوبرت "ستارهٔ سینه"
سمت راست: در صحنه‌ای از فیلم سکسی مورد توجه شاه (وی در عکس روزنامه کاملا لخت است)
سمت چپ: در حالیکه مدال ۲۵مین سال سلطنت شاه را در دست دارد.

Der Schah lud den Busenstar ein.

ظاهراً شاه چې کله متوجه کېږي چې د هغه رازونه په اروپا کې بربنډېږي، نو د اروپا د هغه وخت يوې سکسي هنرمندې ته په رسوا ډول بلنه ورکوي، **تر څو** ايران ته سفر وکړي، چې دوه ورځې روسته بيا دا مطلب په جرمنيي جريدو کې داسې راڅرګندېږي: «د ايران **۵۸** کلن پاچا د جرمني د سکسي فلمونو ښايسته ستورې (کارين شوبرټ) خپلې مانۍ ته وبلله. نومورې ته د هغو څو ساعتونو په بدل کې چې شاه سره يې تېر کړل، د هغه لخوا **۲۵** زره مارکه ورکړل شول».

کارين يوې رسنۍ ته د هغو څو ساعتونو په اړه چې شاه سره يې تېر کړي ول، داسې وايي:

- بېخي ډېرې عالي شپې وې، شاه زه د پونيټون (د نيمې شپې ژړا) **په** سکسي فلم کې ليدلې وم او همغه وخت يې دا پريکړه کړې وه، چې هر څنګه کېږي، ما سره ووينې چې هغه همغسې وشوه. **هغه راته د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو دسايسو او بريدونو په اړه کيسې وکړي، کوم چې د ده په اړه تر سره شوي ول او دغه راز د خپلو ګڼو ښېګڼو او خدمتونو يې راته وويل، چې خپل هيواد ته يې کړي ول.

خبريال يې دا ځل شاه سره د نزدېکت په اړه پوښتي، هغه ورته وايي:

- په هغه وخت کې بنيادم څه پوهيږي؟ په دغسې خواږه مجلس کې لاس په لاس کې اېښوول او مچو کول، يو متداول امر دی. زه يوه ښځه يم او لکه څنګه چې بايد يوه ښځه يې وکړي، همغسې مې وکړل.

د خدای پامانۍ پر مهال شاه هغې ته د خپل تاج پر سر کولو د وخت يوه باارزښته طلايي سکه ډالۍ کوي او له همدې امله ګورو چې مېرمن کارين په ډاګه دا اعتراف وکړ، چې تر منځ يې د نزدېکت موضوع نشته او لکه زموږ د هيواد باټورو ښځو په شان يې د پېښې پر خلاف دا ادعا ونکړه چې ګواکې له شاه سره نزدې شوې ده.

بله دا چې کله شاه د يوې شپې په خاطر ۱۰۰ زره تومان لګوي او بيا دا مطلب په زور او زېر په بهرنيو جريدو کې انعکاس مومي! همدلته بايد پوښتنه وشي چې کله هغه په دومره بې باکۍ سره نوموړې ۱۸ کلنه سکسي مېرمن د خبريالانو پر وړاندې خپل دربار ته وبلله، نو د هغه ښځه يعنې ملکه فرح چېرته وه؟ يقيناً چې دغې نيک عمله مېرمنې (د ايران ګرانه ملکه) د يادې صحنې په جوړولو او ترتيبولو کې د خپل خاوند سره همکاري او همغږي درلوده.

له دغو پېښو نه يوه دا چې په روستيو کې رامنځته شوه او کيدای شي چې پاسنيو مطالبو سره شايد لږ اړيکه هم ولري، د تهران د هغې ورځې مسأله ده، يعنې د (هرې يکشنبې ته پام- Any Given Sunday انګليسي فلم) ورځ ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د مخکنۍ نقشې له مخې ټول بانکونه او د مشروباتو پلورنځي وسوځول شول او يوه بله عجيبه يې لا دا چې له دغو سوځېدليو بانکونو نه يو يې بيخي د پوليسو يوې حوزې سره ديوال په ديوال و (په فرح واټ کې) او د حوزې ماموراونو هم د دغه کار په مخنيوي کې لږ هم اقدام ونکړ، شايد وېرېدل به چې د دوی پر هغو ماموراونو باندې چې په شخصي جامو کې ول، مرمۍ ونه لګېږي.
بيا هم بله عجيبه دا ده، سره له دې چې د اورلګېدنې ځايونه د تهران پوهنتون او فردوسي ميدان په سيمو کې ول، د ملکې د خوښې وړ برخې يعنې رودکي تالار او د ښار تياتر پکې خوندي پاتې شول، سم لکه دا دوه محلونه چې د دغې ګډوډۍ په ناحيه کې هغه وخت نه ول، يا دا چې که ووايوو، پر سينماګانو بريد کوونکو يوازې دغو دوو سالونونو سره عقيدوي مخالفت نه درلود، نو دا به هم دومره منطقي دليل نه وي.
بالاخره دې پايلې ته رسېږو چې اغلې ملکه په دغه پلان کې شريکه وه او د دغه کار له ترسره کېدو نه پوره خبره وه چې د خپلې خوښې دوو کعبو (د ښار تياتر او رودکي تالار) د ساتنې لپاره يې هم دستور ورکړی و.
اوس همدې مسألې ته د نورو واقعيتونو سره تړاو ورکړئ، يو يې دا چې د کورش ټول زنځيري پلورنځي په ملکې پورې اړه درلوده، چې هر يو څو برابره بيمه شوی و او دغه هر يو پلورنځی يو – يو ځل سوځول شوی او له بيمې نه يې درې برابره وجه د ملکې جيب ته لوېدله.
دا به مو هم په ياد وي چې د ښاغلي وهاب زاده وداني، همغه نامتو ودانۍ چې د (يکشنبې ته پام) په ورځ وسوځول شوه او هر څه يې له خاورو سره خاورې شول، همغه ودانۍ چې په بي ايم او يا پاکديس باندې يې هم شهرت درلود او په روزولت واټ کې د دياموند سينما څنګ ته واقع و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغې ودانۍ له سوځېدو روسته دا معلومه شوه چې یاده ودانۍ د ۶۰ میلیون تومانو په ارزښت بیمه وه، نو زیاتره کارکونکي په دې وپوهېدل چې حتماً تر کاسې لاندې نیم کاسه شته، ځکه دا یوه حیرانونکې او بوګنوونکې بیمه وه او حتماً به د دغه کار په اړه یو چا ښاغلي وهاب زاده ته خبر ورکړی وي.
د دې تر څنګ د بیمه پاڼې تاریخ هم همدغسې وینا کوي، ځکه د دغې بیمه پاڼې تاریخ ۱۳۵۶/ کب/ ۲۹ یعنې د ۱۳۵۶ل کال روستۍ ورځ ده، اوس نو داسې څه لامل شو چې پاسنیو ښاغلیو د کال همدا روستۍ ورځ وټاکله؟ همدا پخپله ګڼې پوښتنې زېږوي.
تاریخ لیکونکي په دغو مسایلو ښه پوهېږي چې زیاترو سوداګرو به، چې کله مالونه واردول، که دغه توکي یا مالونه د ځینو دلایلو له مخې بیمه نه ول (او یا یې د بیمه پاڼې تاریخ تېر شوی و) یا هم د ځینو لاملونو له وجهې توکو ته زیان اوښت، نو د بیمې د دلالانو لمن به یې ټینګه نیوله او دوی به هم د توکو د قیمت درې برابره پیسې (رشوت) ترې اخیستې او موضوع به یې د تېر کال د اړوند کتاب په روستي مخ کې درج کوله او دغه راز پیرونکي ته به یې له تاوان ورکولو روسته خپل حق هم ترلاسه کاوه.
البته چې د ښاغلي وهاب زاده بیمه پاڼه هم همدغسې ده، یعنې هغه له پخوا د هغې ورځې د اورلګېدا له طرحې خبر و، ښاغلی په جریان کې پرېښودل کېږي او هغه هم مثلاً د اورلګېدو ته ۱۰ ورځې پاتې وې چې د بیمې په لټه او هڅه کې کېږي او روسته هم چې کله ویني، د بیمه پاڼې تاریخ له اورلګېدا نه ۱۰ ورځې مخکې دی، نو خبره رسوا کېږي؛ روسته کوم تړون یا ژمنه چې د بیمې کاروکونکو سره کوي، د هغې له مخې د ۱۳۵۶ کال په روستۍ ورځ د هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم بيمه پاڼه صادرېږي (له ناچارۍ په روستي ساعت او د کتاب په روستي مخ کې!).

يوازې باوري ګمان دا کيدای شي چې وهاب زاده د دغې اورلګېدا له طرحې څخه له مخکې په يو ډول خبرېږي او په همدغه اساس په هغې توګه چې پاس يې يادونه وشوه د يوې مجهولې بيمه پاڼې په ترتيبولو لاس پورې کوي.

**خو** اوس راځئ دا وګورو، څوک داسې کولای شي هغه ته دومره ورنزدې شي، چې هغه دې حتماً د دغې اور لګېدا د طراحانو له ډلې څخه وي او يا هم لږ تر لږه ترې خبر وي، تر څو نوموړی د دې پېښې په اړه سم پوه کړي؟

آيا دا مو هېر کړي چې د ښاغلي وهاب زاده لور د ښاغلي کريم پاشا بهادري ښځه ده! (دا چې رسمي وه يا مصلحتي، معلومه نه ده) او کريم پاشا هم چې تاسو ته در وپېژندل شو او پوهېږئ چې هغه څنګه کولی شوای، له کوم ځايه دا خبر ترلاسه کړي! بيخي ښکاره ده چې د ښاغلي د څلورو اولادونو مور او د هغه پخوانۍ مېرمن فرح ديبا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبیرخان د شاه دوهم مېړه**

اوس ووینو چې د شاه پر مېړه یعنې ارنسټ پېرون باندې څه راغلي؛ دا چې وخت تېرېدونکی دی، نو د پېرون هغه ځواني او مستي اوس نه وه ورته پاتې او هغسې چې شاه خوښاوه، هغه څېره یې اوس له لاسه ورکړې وه؛ نو له همدې امله شاه له ډېرې مودې مخکې په دې لټه کې و، چې په یو ډول خپل مېړه بدل کړي، تر دې چې په ۱۳۴۰ کال کې د یو امریکایي سلاکار په مرسته د یو نامتو نړیوال ګلف باز خبیر خان ګودرزي سره اشنا کېږي او خورا ډېر یې په زړه کې کښیني چې بیا له دې اشنایۍ لړ روسته، د دې لپاره چې د خپل نوي مېړه وصال ته په ارامه ورسیږي، د خپل پخواني مېړه ارنسټ پېرون د ورکاوي بندوبست کوي، ځکه چې هغه اوس نه یوازې بوډا شوی و، بلکې د شاه پر وراندې یې د یو غټ مزاحم حیثیت هم خپل کړی و؛ نو همغه وه چې له **۲۵** کلنې اړیکې (د ښځې او مېړه په توګه) روسته یې هغه مسموم کړ او بلې دنیا ته یې واستاوه.

خبیر خان همغه نامتو سړی دی چې (د یو میلیون ډالرو راز) کتاب یې د امریکا او اروپا په جریدو کې خپور شو او زیات جنجالونه یې وزیږول.

خبیرخان د هغه بختیاري نامي قلي خان زوی و، چې کلونه کلونه یې د سلیمان مسجد په سیمه کې د ایران- انګلیس د تېلو د یو شرکت د پخواني رییس په کور کې پخلی کاوه او خبیر خان هلته نړۍ ته سترګې لوځې کړې دي او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومتوبه چې د انګریزي ارباب زامنو سره یې ناسته پاسته درلوده، نو انګریزي یې لکه مورنۍ ژبه داسې زده وه، هغه لومړنۍ زدکړې تر شپږم ټولګي وکړې، په ۱۴ کلنۍ کې یې پلرنی کور پرېښود او ابادان ته لاړ، **هلته د** انګلیستان انټلیجنټ سرویس ماموراتو د رییس مېسټر جي کاک په کور کې پر دنده وګمارل شو.

خبیر خان چې ډیر ځیرک او وړ انسان و، د مېسټر جي کاک پام یې ټول ځانته جلب کړ، لومړی یې د جي کاک کارونه ټول ورته سمبال کړل او چې کله جي کاک وپوهېد چې دا هلک د سترو کارونو ترسره کولو وړتیا او استعداد لري، نو د خپلو ماموراتو جرګې ته یې وباله. خبیر خان د ماموراتو په منځ کې هم وتوانېد چې د خپل فطري استعداد او هوښ په مرسته سترو بریاوو ته لاسرسی **ومومي، د حزب توده** (د خلکو ګوند) اړوند کارکوونکي یو- یو وپېژني او خپل رییس ته راپور ورکړي. ان له دوهم نړیوال جنګ روسته چې د خلکو ګوند هرې خوا ته لاره وکړه او ټول ابادان، اهواز او ټولې نفت لرونکې سیمې یې تر خپل نفوذ لاندې راوستلې چې انګریزانو ته خورا د اندیښنې سبب وګرځېد. هغه د ابادان نامتو شتمن حسین ګزي د سر پرېکولو سره، د خلکو ګوند زیات**و** فعالانو ته دام کېښود او هغوی یې په دغه تور کې یرغمل کړل.

خبیر خان چې یو بې باکه او بې وېرې بنیادم و، ټولې ستونزې یې په ښه توګه حل کولې او همدا لامل ګرځېد، څو د هغه ثروت او قدرت په زیاتېدو شي؛ د جګړې له پای ته رسېدو روسته، د ایران – انګلیس د نفتو شرکت یو **پخواني ټرونوال (قرار دادي)** نصرالله اذري سره په ګډه، له امریکایانو نه یې د اندیمشک د صالح اباد کمپ وپېر او له تر لاسه شویو ګټو یې د ابادان په بریم سیمه کې د ګودرزي ګاراج رامنځته کړ چې اوس هم دا نوم پاتې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په روستيو کې خبيرخان د ډاکټر زنګنه سره په شريکه د موټر چلونې دوه نوي لينونه (کرښې) په ابادان کې جوړ کړل او د ايران په ملي شورا کې د ايران د نفتو د صنعت ملي کېدو قانون له تصويب او د ايران – انګليس د نفتو پخواني شرکت نه د واک اخيستو او د انګريزانو د نفوذ له منځه تلو نه روسته، چې کله خبيرخان پوه شو چې د انګريزانو د سرورۍ دوران تېر دی، نو ژر يې مشر بدل کړ او امريکايي پاله شو، د تورو ماموروانو په غېږ کې ورولوېد او همغه و چې تهران ته راغی؛ په تهران کې يې له يو امريکايي باوري شرکت سره چې پلانونه يې سازمانول، په ګډه يو سوداګريز شرکت جوړ کړ.
د ايران شاه سره د خبيرخان لومړنی ملاقات د امريکايانو په وسيله د سپورتي مسايلو په پلمه تر سره کېږي، دا چې خبير خان په نړۍ کې د ګلف لوبې نامتو او ماهر لوبغاړی و، نو په همدې خاطر يې دغه کتنه هم ترسره کېږي چې روسته بيا دا کتنې دوام مومي او شاه د خبيرخان په دام کې ګير کېږي چې **بالاخره** پريکړه کوي، د ارنسټ پېرون ځای هغه ته ور وبخښي او په همدغه ترتيب خبيرخان د شاه هرکاره کېږي.
دلته د خبيرخان اساسي رول ته پام وکړئ، چې هم د امريکا او هم د انګليس جاسوس دی او هم د اړتيا پر وخت د محمد رضا شاه پهلوي مېړه.
خبيرخان د شاه د خوب کوټې ته د ورتلو په فکر کې لوېږي او د خپلې ځانګړې ځيرکۍ په مرسته د خپلو جاسوسو چارو کلکسيون بشپړوي او له همدغه امله، کومه مخينه يې چې درلوده، د هغې په مرسته ډير ژر بری مومي، تر څو خپل عناصر او خلک د ماڼۍ په هر ګوټ کې وګماري او ترڅنګ يې د شاه پټ بکس او اسنادو ته لاسرسی ومومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه اسناد چې خبير خان تر لاسه کړل، هغه ټول په بهرنيو بانکونو کې د پهلوي د حسابونو بشپړ حساب صورت و او همدارنګه د هغې اقتصادي خرڅې سندونه ول چې د امريکا دولت لخوا د ايران دولت ته يعنې د شاه شخصي حساب ته مستقيماً لېږدېدلي او د دغو سندونو د فوټو کاپۍ په اخيستو کې خبيرخان ښه سم وتوانېد.

دا چې ويل کيږي، د خبيرخان کسانو د شاه د وسپنيز لوی بکس کيلي درلوده، دا تصور ناسم دی؛ ځکه دا لوی وسپنيز بکس د شاه د خوب په خونه کې ايښی و او بل هيچا دغې کوټې ته د ننوتو اجازه نه درلوده، همدارنګه د بکس رمز او کيلي داسې جوړ شوي ول چې په معمولي وسايلو نه خلاصېد. خو دا چې خبيرخان د شاه دوهم مېړه و، نو خامخا په ازادانه توګه يې دغې کوټې ته تګ راتګ کولی شوای او د هغه پټو اسنادو ته رسيدلی شوای.

مخکې يادونه وشوه چې خبيرخان لومړی د يو امريکايي سلاکار په مرسته شاه سره اشنا شو، هغه هم د ګلف په لوبه کې چې شاه يې د خپلې ځوانۍ، هنر او ځيرکۍ په دام کې داسې راګير کړ، څو يې د ارنسټ پېرون ځايناستی کړ او پخوانی مېړه (ارنسټ پېرون) يې له دنيا نه تېر کړ.

شاه د ځان سره دا فکر کاوه چې يو ځوان سړی له ژوند نه څه غواړي؟ ښه کور، نوی ماډل موټر، سوتره او لوکس وضعيت، ښه خوراک، ښکلي او پوښاک، ښايسته معاشراني او په ټولنه کې درناوی؛ چې دا ټول د شاه له وسې پوره ول، تر څو خبيرخان ته يې البته د دوهم مېړه په توګه په واک کې ورکړي، خو خبيرخان بيا بل فکر درلود، هغه غوښتل چې د شاه دا پرېمانه شتمني او ثروت تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبيرخان چې اوس د شاه د رازونو محرم و او د هغه له غلاوو او نورو پټو کارونو څخه خبر و، دا تمه يې درلوده چې شاه به له خپلو غټو غلاګانو څخه ورته برخه ورکوي؛ خو شاه غوښتل، کوم سلوک يې چې له ارنسټ پېرون سره درلود، همغسې يې له خبيرخان سره هم ترسره کړي؛ اما خبيرخان د **ارنسټ** پېرون په شان نه و، هغه چې د شاه ثروت ته لکه لېوه داسې وږی تږی و، نو د قضا دې پرېکړې ته يې غاړه کېښوده، تر څو هغه بوډا سره په څنګ کې شپې تېرې کړي، سره له دې چې د ايران شاهنشاه هم دی.
خبيرخان چې له شاه څخه نهيلی شوی و، نو يوه شپه يې د شاه د څښاک په ګيلاس کې د خوب څو ګولۍ ورګډې کړې او په همدغه چل يې د لوی وسپنيز بکس کيلي تر لاسه کړه، کله يې چې بکس پرانيست، هلته پيسې او جواهرات نه مومي، خو څيني سندونه ترلاسه کوي او د هغو فوټو کاپيانې باسي، روسته بيا په پټه خوله امريکايانو ته ورتښتي (دقيقه يې کيسه دا ده چې له ډېرې مودې يې دغه بکس ته لاسرسی درلود او بيا يې هغه هر څه امريکايانو ته سپارل، نو ښه دا ده چې د کتاب اخر کې به د خبيرخان د اېستلو اصلي علت وليکو).
له رازونو نه يو راز چې تر اوسه پټ پاتې و، د ايران د امنيت اداري له رياست نه د تيمور بختيار لېرې کېدو مسأله **وه!** دا لېرې کېدل د خبيرخان ماجرا سره پوره تړاو درلود، هغه داسې چې خبيرخان او تيمور بختياري دواړه بختياري ول او يو بل ته يې ډوډۍ په پور ورکولې، يعنې تيمور بختيار د همدغه خبيرخان په مرسته له ټولو داخلي چارو څخه اطلاع حاصلوله او ان له دې هم خبر و، چې خبيرخان هره شپه شاه په زحمتوي، خو د امنيتي لاملونو په خاطر يې هېڅ راز نه برښداوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو وخت راغی چې خبيرخان وتښتېد، همغه وه چې شاه د دوی دواړو له اړيکې خبر شو او د خپل عزت لپاره يې د تيمور بختيار پر ضد توطيه جوړه کړه. تيمور بختيار چې اوس پوره بوډا شوی و، خو خوندونه يې هم اخيستي ول، د خبيرخان تلو سره د کودتا په فکر کې شو، خو دا چې روستي حالات د ده په غوښتنه رامنځته نشول، نو له همدې امله له ايران څخه تبعيد او معدوم شو.
البته کوم چا چې بختيار ورک کړ، هغه نامتو او لوی شتمن هژبرخان و، چې روسته يې بيا د خپلو زحمتونو په بدل کې د بانکونو څو ميلياردېز باورونه تر لاسه کړل، څوک څه پوهېږي، کيدای شي هژبر يزداني هم د شاه له مېړونو څخه يو وي.
له ايران نه د خبيرخان تېښته له ګڼو نورو پېښو سره مله ده، يادول يې دلته په کار نه دي، خو د امريکا په سنا مجلس کې د امريکا د وخت پاچا کېنډي پر وړاندې دغو اسنادو د شاه آبرو داسې توی کړه چې د ويلو نه ده. کېنډي بيا پريکړه وکړه چې د ايران غل او همجنسباز شاه دې د ايران له سياست نه وغورځول شي، خو وخت دا مجال ورنکړ او دا طرحه يې بشپړه نشوه.
له ايران نه د خبيرخان له تېښتې روسته شاه ته دا فکر ورلوېږي چې بايد دريم تن يعنې د دريم مېړه په توګه يې د هغه ځايناستی کړي، همغه و چې د لوړ قد خاوند ښايسته، پياوړی نارينه او جذاب ځوان محمود صديقي يې د هغه ځايناستی وټاکه. په همدغه ترتيب، شاه په خپل ژوند کې درې مېړونه او درې ښځې کړي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیرعباس «هویدا» نخست وزیر معدوم شده رژیم «ستم شاهی» و طاغوتی محمدرضا مروج فساد در ۱۳ سال نخست وزیری ناحق خود بود. در این ۱۳ سال که از سیاهترین ادوار زندگی ملت ایران بود، «هویدا» با تشکیل کابینه هائی مرکب از گروهی مطرب، هموسکسوئل، دلقک، پاانداز، دزد و سرگردنه بگیر که این اواخر گروهی از فحشاء نیز بدانها اضافه شده بودند. کانئات فساد را در این مملکت پایه ریزی کرد. امیرعباس «هویدا» در کلوپ های همجنس بازان انگلستان و اروپا چهره شناخته شده ای بوده است.

مجله معروف لایف در رپرتاژی پیرامون زندگی همجنس بازان از امیرعباس هویدا و برادرش فریدون هویدا معروف به «فری» به عنوان دو همجنس باز معروف نام برده بود. «هویدا» به هنگام نخست وزیری اش گروهی از همجنس بازها را گرد خود جمع اوری کرده امور کشور را بدست انها سپرده بود. از اعضای کابینه هویدا از غلامرضا کیانپور وزیر دادگستری و اطلاعات کابینه های هویدا که سابق براین ویلونیست کافه شکوفه بوده و درمدت روی کار بودن دولت خدمتگزار هویدا! از ضرب گرفتن در کافه شکوفه به وزارت رسید نیز به عنوان بیمار جنسی نام می برند. «غلامرضا کیانپور» که به شاپور خوشگله شهرت داشت، علاوه بر رتق و فتق کارهای وزارتخانه اش! به برپائی مجالس همجنس بازی نیز می پرداخت و خودنیز دراین مجالس به ضرب گرفتن و گرم کردن مجلس می پرداخت. میگویند «شاپور خوشگله» دراین مجالس با پوشیدن لباس زنانه نمایشات تخت حوضی هم اجرا می کرده است.

ازدواج «هویدا» با «لیلی امامی» به همین دلایل استمرار نیافت و «لیلی امامی» که متوجه اعمال همجنس بازی «هویدا» شده بود از او طلاق گرفت. هویدا از اعضای فراماسونری بود. از شرایط پذیرفته شدن در لژهای فراماسونری یکی هم همجنس بازی بوده است که «امیرعباس هویدا» بدان تن درداده بود. راز «هویدا» پس از جدائی از «لیلی امامی» که تا ان زمان فقط زبانزد اعضای کابینه ها و دوستان نزدیکش بود به میان مردم کوچه و بازار هم کشیده شد و بزودی خبر «همجنس بازی» بودن «هویدا» طوری شایع شد که حتی در دورافتاده ترین نقاط کشور هم به گوش میرسید. «هویدا» وقتی اطلاع یافت پیرامون انحراف جنسی او شایعات زیادی بر سرزبانها افتاده است به فکر چاره جوئی افتاد و برای رد گم کردن سعی کرد از خود چهره ای معکوس بسازد از ان پس وی سعی میکرد در عکسهائی که از او در مطبوعات چاپ میشود حتما عکس یکی دو «زنه» نیز باشد. به بازدید سازمانهائی که مختص زنان بود میرفت! از دبیرستانهای دخترانه بازدید میکرد و طبق یک برنامه حساب شده با زنان و دختران عکس میگرفت. یک وزیر زن به کابینه اش اورد و بعدها در مجالس کثیف خود یکی دو زن را هم به بازی گرفت و تلاش کرد مردم او را به چشم یک فرد علاقمند به «زنه» بشناسند اما برای گرفتن این خقه، دیگر دیر شده بود و این نیز خود مزید بر علت شد زیرا که هویدا دوست داشت زنانی که در مجالس عیش و عشرت او شرکت می کنند وی را «خواهر» صدا کنند! و یکبار که «مهناز افخمی» وزیر بهائی کابینه اش سهوا او را در نخست وزیری همانطور که در مجالس خصوصی خطاب میکرد «خواهر» صدا کرد دیری نپائید که این خبر نیز از دیوارهای کاخ نخست وزیری گذشت و در شهر پیچید! عکسی را که در پشت جلد این شماره ملاحظه می کنید یکی از صدها عکسی است که رئیس دولت خدمتگزار با خواهران خود! برای رد گم کردن انداخته است!

بریده‌ای از جراید در باره امیر عباس هویدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ایران نه د خبیرخان تېښته له ګڼو نورو پېښو سره مله ده، یادول یې دلته په کار نه دي، خو د امریکا په سنا مجلس کې د امریکا د وخت پاچا کېنډي پر وړاندې دغو اسنادو د شاه آبرو داسې توی کړه چې د ویلو نه ده. کېنډي بیا پریکړه وکړه چې د ایران غل او همجنسباز شاه دې د ایران له سیاست نه **وغورځول** شي، خو وخت دا مجال ورنکړ او دا طرحه یې بشپړه نشوه.
له ایران نه د خبیرخان له تېښتې روسته شاه ته دا فکر ورلوېږي چې باید دریم تن یعنې د دریم مېړه په توګه یې د هغه ځایناستی کړي، همغه و چې د لوړ قد خاوند ښایسته، پیاوړی نارینه او جذاب ځوان محمود صدیقي یې د هغه ځایناستی وټاکه. په همدغه ترتیب، شاه په خپل ژوند کې درې مېړونه او درې ښځې کړي دي!
له خبیرخان نه چې د شاه سترګه سوې وه او عقل یې سر ته ورغلی و، نو د محمود صدیقي په اړه یې فکر وکړ: (زه بوډا او هغه ځوان او د ځوان او بوډا معاشره هیڅکله سمه پایله نه ده لرلې) **چې** د همدغه فکر او اندېښنې له امله یې خپلې زیاتې بانکي، شرکتي او ودانیزې ونډې خپل نوي معشوق محمود صدیقي ته ور وبخښلې.
**د ۱۳۵۲**ل کال د زمري میاشتې په **۱۷**مه چې د یو څه په اړه د ښاغلي حایزي رسمي دفتر ته چې د الیزابت په بلوار کې واقع و، ورغلی وم، پخپله ناظر او **شاهد** وم، شاه د اریا هوټل چې له **۲۵** میلیونو یې زیات ارزښت نه درلود، د ایران په ملي هوایي شرکت یې د **۷۰** میلیونو په بیه خرڅ کړ چې د شاه لخوا ښاغلي بهبهانیان او د هوایي شرکت لخوا د هوایي ځواک پخواني رییس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي تيمسار خاتمي (د شاه د خور فاطمې مېړه) **په لاس دغه اسناد په دوو برخو (ونډو)** لاسليک شول.

صديقي هم د مرکزي پوځ بانک په حواله يو ځانګړی چک ليکي او هغوی ته يې تسليموي.

د امير عباس هويدا او شاه په اړه ډېر نه پوهېږم، خو دا چې وايي:

کبوتر با کبوتر باز با باز- کند همجنس با همجنس پرواز.

امير عباس هويدا چې کومه مخينه درلوده او د هغه بې ښځېتوب او مفعولتوب ته چې سړی توجه وکړي، نو بايد له پامه ونه غورځول شي چې دوی دواړو هم سره کورکي درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د شاه فریماسون کېدل**

له ډېرو دلایلو څخه یو دلیل چې د شاه همجنسبازي ثابتوي، د فریماسونري سازمان کې د هغه رسمي غړیتوب دی. د دغه عجیب سازمان په اړه چې زیاتره برخې یې د انګریزي انټلیجنټانو لخوا مستقیماً څارل کېږي، خورا ډېرې خبرې شوې دي، خو تر ټولو د پام وړ خبره یې دا ده چې په دغه سازمان کې د غړیتوب لپاره مهم او اساسي شرط دا دی چې اړوند ګډون کوونکی باید مفعول شي.

البته دا تعمیم د فریماسونري ټولو څانګو په اړه یو شان نه دی، داسې خپلواکه څانګې هم پکې شته چې انګلیس سره له اړیکې پرته عمل کوي، کیدای شي د دغو خلکو تر منځ، پاک او نیک کسان هم وي، خو هغه څه چې مونږ ته د پام وړ دي، هغه داسې خلک دي چې په انګلیستان پورې تړلي د فریماسونري مخصوصو څانګو غړي دي چې له دې ډلې یو هم د ایران اریا مهر شهنشاه محمد رضاه شاه پهلوي و.

د شاه د استبداد او اختناق پر مهال که یوه وړه مخالفه نغمه هم اورېدل کېده او یا هم که یو کوچني کور د سلګونو امنیتي اصولو او مسایلو په پام کې نیولو سره - سره د یوې سیاسي ټولنې په توګه فعالیت ته لاس اچاوه، نو د شاه د پټ امنیتي سازمان له څارنې او ګروېګنې څخه په امن نشوای پاتې کېدلی چې روسته به یې سور اور وربانديې جوړ کړ.

فریماسونري ۳۳ درجې رتبې لري چې له دغو درجو نه د تېرېدو لپاره ګڼ مقررات شتون لري او هغه څوک چې ۳۳مې رتبې ته رسیږي، هغه د یو دروند استاد په توګه پېژندل کیږي، عجیبه دا ده چې جعفر شریف امامي دغې درجې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته رسيدلی و، خو د شاه درجه له نوموړي څخه ټيټه وه او له همدغه امله يې په اختررونو او نورو مراسمو کې د شاه لاسونه نه مچول.

د جاسوسۍ دغه پټ سازمان ته د ورننوتو لپاره بايد د رستم له اوو خونو ورتېر شي او لکه څنګه مو چې يادونه وکړه، له ټولو شرايطو څخه يو يې د متقاضي کس مفعول کېدل ول، بله حيرانوونکې يې دا چې له ګڼو مصيبتونو، ناخوښيو، هڅو او بالاخره مفعول کېدا روسته، ياد وګړی بايد د لومړي پړاو تېرولو ته ځان چمتو کړي او دې سره سره د دغې ډلې کړه وړه (لکه د نورو جاسوسو **سازمانونو په شان)** په پوره پټه توګه ترسره کېږي، خو دلته به بده نه وي چې د اريا خط نحو او صرف او (د هند جغرافيې لنډيز) کتاب کې د نصيرالدين ميرزا ليکنې (د حسيني شيرازي فرصت) ته پام را واړوو او د فريماسونري لومړۍ درجې ترلاسه کولو لومړی شرط راوباسو چې داسې ليکل شوي دي:

(لومړۍ درجه «انټر ده پرنټس» نوميږي او مفهوم يې پر استاد د شاګرد دخول دی. له قراينو ښکاريږي، هر هغه څه چې متقاضي له نورو نه د ورود په پيل کې منلي ول، اوس دې همغسې کار (پر استاد باندې د شاګرد دخول) **پر خپل ځان هم ومني او په مشهوره اصطلاح** هغوی سره دې ... **او** ... آشنا شي).

د انګليس يا سکاټلنډ په څانګو پورې د تړليو فريماسونري سازمانونو د مقرراتو او اخلاقياتو تفسير او شرحه په دې مقالې پورې اړه نلري، خو کوم څه چې ښکاره دي، هغه دا دي چې دا ټول له ټولو اخلاقي ارزښتونو څخه لويدلي او **خپل هر څه (ان ناموس هم)** د پرديو په واک کې ورکوي، تر څو هغوی يې يا مقام ته ورسوي او يا يې هم مقام ورته خوندي وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه اوس، شهنشاه کله او په کومه موقع په دغه سازمان کې د غړيتوب هوس کوي؟ دا د زمري ۲۸مې له کودتا روسته موضوع ده چې که دې کيسې ته غوږ شئ نو لا به ښه شي:
شاه له دې مسألې ښه خبر و چې د زمري ۲۸مې نېټې له تورې او بدنامې کودتا روسته يې له هر څه سره څنګه ځان امريکايانو ته وسپاره او په رسمي توګه يې ايران د امريکا تحت الحمايه وګرځاوه. **د پلار او د ده پخواني باداران** (انګريزان) ورڅخه سخت خفه او مکدر شوي ول، له همدې امله يې د **۱۳۳۳** کال د ليندۍ په لومړيو کې د خپلې مېرمن ثريا او د تهران د فرماسون مشر (سرشاپور رپيوټر) سره د هغوی بېرته پخلا کېدا، عذر کولو او د دوستانه اړيکو خوندي ساتلو په موخه انګليستان ته روان شول چې هلته د سرشاپور رپيوتر په وړپېژندلو سره د لندن مرکزي ځانګې فرماسون سازمان غړيتوب ته غوره شو؛ (اوس نو خدای خبر چې هلته به د ورود مراسم کوم تن تر سره کړي وي؟ خو په پوره باور سره چې شاه د لومړۍ درجې د شرط په پوره کولو کې قاصر و**!).**
يو ليکوال وايي: د تهران د ګمرک پخواني رييس محمد علي امام شوستري په کور کې چې له نامتو **ماسونانو (ماسون** – يعنې د فرماسون غړی) څخه و، د يو ماسون په توګه مې د شاه يو داسې انځور وليد، چې سپين لوی کميس يې پر تن، ملا يې تړلې او په داسې حالت کې چې يو لاس يې کوږ او په بل لاس کې يې د ختګرۍ شاول **(شاقول)** – (د فرماسونانو نښانه) نيولی و، د لندن چاپ فرايميسن مياشتنۍ مجله کې خپور شوی و.
نن هر څوک په دې ښه پوهيږي، چې فرماسونري سازمانونه داسې سازمانونه دي چې ملت ته د خيانت او انګليس ته د خدمت او ارتجاع په خاطر رامنځته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي؛ چې دا ټول سازمانونه له يو اخور څخه تغذيه کيږي او هغه هم له انګليسي اخور پرته بل نشي کيداى.

هغه اووه فضيلتونه چې د سليمان معبد د زينو له ۷ پټو سره ورتوالى لري او هر ماسون بايد هغه خپله تګلاره وګرځوي، په دا ډول دي:

0. تواضع او د ټولنې د رازونو ساتنه.
1. د ټولنې د لوړ پوړو غړو اطاعت.
2. نيک خوى او اخلاق.
3. بشر سره مينه.
4. نارينتوب.
5. خپلواکي او لوړ نظري.
6. مرګ سره مينه

**په ۱۳۵۵** کال کې د لوستونکو په نوم **۴۳**مه ګڼه مجله کې د درج شوي خبر په ملاحظې سره، د انګليستان لپاره د شاه ماسون کېدلو پايله ډېره ښه ښکاره او **برښنده** ده.

لوستونکي: ايران په منځني ختيځ کې تر ټولو ستر پېرونکى.

**لندن راپورنه:** د ايران حکومت په پام کې لري چې له **۱/۳** ميليارد ډالرو نه زيات په تهران کې د اوسني ښار جوړولو لپاره ولګوي (موخه يې، د تهران په مرکز کې د پهلوي شهستان دى).

په لندن کې يوې ودانيزې او طراحې موسسې د پهلوي شهستان **طرحه ومنله.** همدارنګه د بريتانيا موسسې د راتلونکو **۵** کلونو په لړ کې د يو پروګرام له مخې د ايران پاچا ته سل زره تيار جوړ شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورونه د مرستې په ډول ورکوي، دا کورونه په هغو کارخونو کې چمتو کيږي چې پخپله د انګليس لخوا په ايران کې ودان شوي دي.

د ايران او انګليس وروستۍ سوداګريزې اړيکې له **۱۹۷۲**کال څخه (هغه وخت چې ايران شتمن شو) پيل شوې او دا اوس په ايران کې د مشترکو **۵۰** موسسو سربېره نور**۱۵۰** انګليسي شرکتونه او موسسې کار کوي چې د انګليستان له تجربو او مصالحو او د ايران له پيسو څخه استفاده کوي.

دغه راز ايران هم په پام کې لري چې د ښوونځيو د تغذيې په پروګرامونو کې له انګريزي تګلارې نه ګټه واخلي.

ايران دا اوس د کانکورډ ماډل دوه الوتکې پېرلي دي او په پام کې لري چې دريمه هم له همدغه ماډل څخه وپېري. انګليستان د خپل زيانمن اقتصاد د پياوړي کولو په خاطر په نفتو باندې شتمن هيواد ايران کې خپلې هيلې ويني.

نامتو ليکوال محمود محمود ليکي:

په ايران کې د انګريز فريماسونري فعاليت د عباس پاچا له دورې راروسته روان دی او د ايران زياتره پاچاهان او لومړي وزيران د دغې ټولنې غړي ول؛ دغو فعاليتونو يوازې سياسي اړخ نه درلود، بلکې د خلکو له مذهبي باورونو يې هم ګټه اخيستې ده. **مثلاً، په** نولسمه پېړۍ کې يې د ايرانيانو لپاره څو امامان را ووېستل، خو يو هم ټينګ نه شو. د ميرزا علي محمد باب پلويانو ان تر دې چې تورې يې را واخيستې، خو ګټه يې ونکړه. دا چې د حاجي ميرزا اغاسي په دوره کې خلک وپوهېدل او راويښ شول، اما د هغه صدارت دوام

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ونه موند، محمد شاه مړ شو او حاجي هم له هر څه نه خلاص شو، تر دې چې ياغيانو هغه هم له دنيا تېر کړ.**

امير کبير ميرزا تقي خان چې د خپل صدارت په دوره کې يې فتنې له منځه يووړې، بالاخره د خپل دغه سياست له امله يې د زمکې پر سر زغمل سخت شول او همغه و چې له منځه يې يووړ).

د نوموړي ليکوال د پاسني نظر پر خلاف، زه دا وايم چې دا امامي فتنه د روسيې لخوا حمايه کېدله او مرکز يې هم د شوروي په عشق آباد کې و، دا چې امير کبير يو هېوادپال انسان و، خو د انګريزي دسيسو ښکار وګرځېد او له منځه يووړل شو. ځيني نور کسان چې د دغه پټ سازمان غړي ول او د ايران په تاريخ کې يې د اربابانو په توګه رول لوبولی، دا دي:آيت الله سيد محمد طباطبايي، شيخ ملا هادي نجم آبادي، حاجي نصرالله طريقي، ميرزا حسين خان مستوفي الممالک، مشيرالدوله پيرنيا، ارباب کيخسرو، محمد علي فروغي **او... همدارنګه رضا شاه او محمد رضا پهلوي او ...**

لنډه دا چې د دغه پټ جاسوسي سازمان عاملان هر وخت په يوه بڼه نه يوه بڼه (يوه لاره نه يوه لاره) د کار صحنه کې راڅرګندېږي، يوه ورځ به ګورې چې امام دی، بله ورځ د ناسيوناليستي له لارې راغلی او ملي ولولې پاروي او يا هم مذهبي خوځښتونو ته لمن وهي چې عندالزوم د ايران شاه هم په دې ډله کې و؛ خو اوس ولې د هغه ارباب او بي بي سي مخ ترې اړولی دی او سره له دې چې شاه د ۳۳ رتبو وال خپل استاد شريف امامي د کار صحنې ته راووست، ولې يې بيا هم هغه په لرګي وواهه؟

دا د تاريخ هغه تورې زاويې دي، چې راتلونکی به يې خامخا په ډاګه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د طلا قضيه څه وه؟**

د طلا موضوع هم له هغو طرحو او پروګرامونو څخه وه چې بهرنيو مطبوعاتو خصوصاً جرمنيانو ته د غير مستقيم ځواب په ورکولو کې د دربار او عاملانو (مخوصاً اسدالله علم) لخوا پلان او تدوين شوه او د شايعې په توګه نشر ته وسپارل شوه؛ د دې لپاره چې دغه تبليغاتي طرحه خپره شي، د وخت د اطلاعاتو وزير په دستور د طلا او يو بل تن تصوير د تور او سپين مجلې په يو مخ کې خپور شو او هغه څوک چې تبليغاتي پروګرامونو سره بلد دي، ښه پوهيږي چې دغه ماهرانه مانور نه يوازې د شايعې د له منځه وړلو لامل نشو، بلکې شايعې ته يې لاپسې نور اړخونه ورکړل او تول يې وپوهول چې شاه دوهمه ښځه هم لري.



د ګلیدا (طلا) هغه انځور چې په تور او سپين مجله کې خپور شو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه تصویر اړخیز او پلوي اثرات دا ول چې خلک ټول په فکر کې لاړل، کومه شایعه چې دوی اورېدلې وه، که هغه ناسمه وای، نو دربار هیڅ وخت د دغسې رسوا تصویر چاپولو ته دستور نه ورکاوه، البته د پردې تر شاه څه شته او هغه شاید په دغو دوو ډولونو وي:

۱- شاه دوهمه ښځه کړې او د توجه اړولو په خاطر یې دا تصویر چاپ کړی دی.

۲- شاه له مودو راهیسې طلا سره و، خو دا چې اوس یې هغه پرېښوده، غواړي د بوسو لاندې اوبه تېرې کړي.

په دواړو حالتونو کې همغه یوه خبره ده چې شاه دوهمه ښځه درلوده، خو دلته پوښتنه دا ده چې که د یو هیواد پاچا له یوې یا زیاتو ښځو سره خلوت وکړي، نو ایا هرومرو دې دا راز په ټولنه کې هم رسوا شي؟ آیا د نورو هیوادونو ولسمشران د ښځو شوقیان او لېواله نه دي؟ آیا د عربستان، کوېټ او مراکش او نورو هیوادونو پاچاهان په زرګونو عقدي، صیغه یي ښځې او په سلګونه **موقتي** (د یوې شپې) ښځې نه لري؟... آیا تر اوسه د هغوی له دغسې اړیکو څوک خبر شوي؟

اوس ګورو چې مطبوعاتو د طلا موضوع په څه ډول را اخیستې ده او دغې ماجرا ته یې د هغې پښه څنګه وردننه کړې ده؟

د تور او سپین مجله لیکي: طلا د یوې درباري ښځې خپلوانه وه چې د مرستیالۍ په توګه یې په یوه څانګه کې کار کاوه. (تر دغه ځایه مطلب درسره وساتئ چې طلا د یوې درباري ښځې خپلوانه وه، تر څو پوره مطلب ته ورسیږو، وبه ګورئ چې د دغې ننداري ټول لوبغاړي په دربار پورې تړلي کسان دي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور او سپين مجلې ليکلي:

**د ۱۳۵۲**ز کال د زمري مياشت (هغه وخت چې **په اروپايي مطبوعاتو** کې د شاه شنډتوب په اړه مقالې نشر شوې) يوه ورځ د وخت د اطلاعاتو وزارت وزير مرستيال د مجلې له مدير څخه وغوښتل چې فوراً يې بايد ليدو ته ورشي او هلته يې بيا هغه ته تصويرونه ورکړل او ترې ويې غوښتل چې په همغې اوونۍ کې د يوې ځوانې نجلۍ او **ځوان** هلک د کوژدې خبر، د مجلې په لومړيو مخونو کې نشر کړي؛ خو د مجلې مسوول مدير اعتراض وکړ او ويې ويل چې د مجلې لمړني مخونه د سياسي مطالبو لپاره ځانگړي شوي، ښه دا ده چې دا خبر يوې ښځينه مجلې ته ورکړئ. د وزارت مرستيال په غوصه کېږي او په جدي ډول وايي: (زه وايم دا مطلب به خامخا په همدې اونۍ کې د سپين او تور په مجله کې خپرېږي، که تاسو يې په رضا خپروئ، بيا يې موږ پخپله په مجله کې خپروو).

له دې امله بله هيڅ لاره نه وه، پرته له دې چې هغه انځورونه چاپ شي؛ مسوول مدير په فکر کې و، چې ناڅاپه يې د يادې کوژدې مجلس په گډونوا**لو** کې پر سينمايي ستورې ژاله سام سترگې ولگېدې او سمدلاسه يې وويل: (**سمه** ده، پرېږدئ چې دا مطلب د کوژدې په دغه مجلس کې د هغې پر محور ترتيب شي).

د مرستيالۍ مقام يې انکار وکړ او ويې ويل چې پخپله نشي کولی، خو له لوړو مقاماتو سره به اړيکه ونيسي، تر څو يې ورباندې ومني.

(c) ketabton.com: The Digital Library






(وګورئ پاسنۍ تبليغاتي طرحه په څومره ماهرانه توګه تنظيم شوې وه او د اطلاعاتو وزارت مرستيال پکې د هيڅ دخالت حق نه درلود) همغه وه چې لږ روسته يې زيری راووړ چې دا نظر ومنل شو او مطلب دې همغسې چاپ شي.

همدا چې بله ورځ مجله په ښار کې خپره شوه، يو عجيب انعکاس يې وموند (هغه څه چې شاه او دربار غوښتل)؛ د مجلې زياتو لوستونکو د ګليدا (**طلا**) په اړه د ډيرو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره يو بل ته تليفونونه وکړل او د دغو تليفوني اړيکو له امله موږ دې ته متوجه شوو چې لکه څنګه چې موږ فکر کاوه جريان په هغه ډول نه دی او همغه وه چې له يو څه تحقيق روسته موضوع روښانه **شوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



له څه مودې وړاندې داسې شایعه خپره شوه چې شاه له یوې داسې نولس کلنې ښایسته نجلۍ سره مینه لري، چې په طلا مشهوره ده، د لوړ قد خاونده ده، تورې سترګې او طلایي ویښتان لري.

دا چې اوازه داسې وه چې د دربار وزیر امیر اسدالله علم ددغې اشنایۍ لامل و، خو علم بیا دا کار د یو بل درباري محرم په مرسته ترسره کړ، هغه د سلطنتي غوجلې رییس کامبیز اتابای و (که څه هم دومره محرم نه و او نه یې په دې ننداره کې هغه ته رول ورکاوه).

علم چې ولیدل چې د دې نجلۍ قیافه او چال چلند کټ مټ همغسې دي، کوم چې شاه یې په ښځو کې خوښوي، نو د کامبیز اتابای په مرسته هڅه کوي، تر څو د هغې له کورنې وضعیت نه ځان خبر کړي، روسته بیا له کوم خنډ پرته دغه احوال هم ترلاسه کوي او بیا یې شاه سره د اشنایۍ لپاره لاره برابروي.



علم ـ د طلا د نندارې اصلي طراح

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی تحقيقات مثبت ول، دا ترې روښانه شوه چې ګليدا نولس کلنه ده، د ليسې دوهمې دورې زدکوونکې او د ګيلان له يوې معتبرې کورنۍ څخه ده او همدارنګه د کورنۍ ځيني غړي يې د هيواد په اداري تشکيلاتو پر دنده بوخت دي، او کار کوي (البته دلته به ښه وه، چې ليکوال ليکلي وای: (د هيواد په ډيرو مهمو تشکيلاتو کې).

**وګورئ!** ياده ننداره/نمايش په څومره ماهرانه توګه ليکل شوې، ټول لوبغاړي يې درباريان دي او تر څنګ يې که چيرې علم غوښتل چې طلا شاه ته واده کړي، نو شاه خو واده درلود او پخپله يې هم د کورني ملاتړ قانون پاس کړی و چې د دوهم واده کولو امکان او چانس يې نه درلود، دغه راز دوهم دليل دا دی چې طلا يې د شاه شهوت ماتونې ته غوښتله؛ نو په دغه حالت کې علم ته دا څه مهمه وه چې طلا دې له معتبرې او که نامعتبرې کورنۍ څخه وي! **شاه** غوښتل هغه يوازې د يوې يا څو شپو لپاره د ځان سره ولري، دا نو شجره ليک ته څه اړتيا لري؟

خو دلته يوه ستونزه ليدل کيږي، هغه دا چې دا کار بايد داسې ترسره شوی وای، ترڅو نجلۍ نه وای پوهېدلې چې هغه شاه ته د څه لپاره ورپېژني او دا ددې لپاره چې که شاه نجلۍ خوښه نکړي، نو موضوع دې نه رسوا کيږي. (واقعاً خندوونکې ده، شاه چې کله درې ښځې (فوزيه، ثريا او فرح) کوي، هغوی د عکسونو له مخې انتخابوي، خو د يوې ملګرې انتخابولو لپاره بيا نغاره او ډهولونه غږوي).

په دغو مواردو کې چې چا شاه ته کومه نجلۍ يا ښځه ورپېژندله، نو دا کار يې په مېلمستيا يا مجلس کې ترسره کاوه، په داسې ډول چې نجلۍ يا ښځه به له کوم خپلوان/خپلوانې سره هغې مېلمستيا ته بلل کېدله، نو هله به يې شاه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وريپېژندله، که د شاه به خوښه نه شوه، نو د هغې نجلۍ/ښځې پر مخ به د تل لپاره د دربار دروازه تړل کېدله، خو که يې خوښوله نو حالت بله بڼه موندله.
په هر حال، علم دا پريکړه وکړه چې خپل کور کې يوه مېلمستيا ترتيب کړي، تر **څو هلته طلا ور وبولي** او شاه ته يې معرفي کړي (لږ روسته به ووينئ چې دا معرفي د فرح پر وړاندې ترسره کيږي) کله چې د ميلمستيا شپه وټاکل شوه، نو د طلا له ترور نه يې چې د يو وزارت مرستياله وه (که نومووړې ترور **(خاله)** درباري نه وه، د وزارت مرستيالۍ مقام ته څنګه رسيدلې وه؟) غوښتنه وکړه، څو د هغه په ميلمستيا کې ګډون وکړي او تر څنګ يې دا هم وریاده کړه چې د طلا په نوم ښايسته او ښکلې خورزه لري، هغه دې هم ورسره راولي **(واقعاً**، عجيبه نندارە ده)!
په هغې شپه پوره امنيتي تدابير نيول شوي ول او د مېلمنو راتګ هم د ماښام له اوونيمو پيل شو؛ طلا له خپلې ترور سره پر اتو بجو مجلس ته راننوته.
شاوخوا نهه بجې وې چې شاه هم له طلايي رنګه شپږ سوه ماډل مرسډيز موټر نه د راښکته کېدو په حالت کې داسې وليدل شو چې په څنګ کې يې فرح هم **وه** (که شاه دلته ښځلوبې «زنکه بازي» ته راته، نو فرح يې بيا ولې راوستله؟) روسته دواړه د علم کور ته ننوتل.
همدا چې شاه او فرح سالون ته ننوتل، چوپتيا خپره شوه او ټوله فضا د خلکو په چوپتيا وپوښل شوه. شاه يو خاص تبسم ته ادامه ورکړه او خپل ټاکلي ځای ته د تلو په حال کې يې ناستو کسانو ته د سر په ښورولو سره درناوی وښود، څينو سره يې لږ خبرې هم وکړې، خو د فرح د تحصيل د دورې ملګري چې هم هلته راغلي ول، فرح د سالون په سر کې هغو سره ودرېدله او هغوی سره يې په ولاړه مجلس پيل کړ. (پام مو دی! دلته هم علم خپل کار په هنر تر سره کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، د فرح ټولګیوال او د تحصیل د دورې دوستان یې راغونډ کړي ول، تر څو دا شایعه ښه خپره شي، ربښتیا عجیبه ننداره ده!).

علم په شاه پسې راون و او نوي مېلمانه یې شاه ته ورپېژندل. کامبیز اتابای چې په دې ماجرا کې یې مهم رول درلود، هم راغلی و او همدا چې شاه ورنزدې شو، طلا او ترور یې ور مخې ته کړل، تر څو د شاه وربانديې پام شي او دا ننداره همدلته بشپړه شي.



کله چې شاه ورسره مخامخ شو، د طلا خاله چې ډېره چاغه وه او بیا د وزارت مرستیاله هم وه، نو د دغه شهرت له امله یې وپېژندله. (موږ هم پوهېدو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننداريې اصلي کرکټران پېژني) د معمول په توګه يې هغې سره ټوکه وکړه او له هغې روسته يې پر طلا پام شو.

**شاه طلا** ته ورتاو شو او لږ څنډ يې سترګې ورسره وجنګولې، روسته يې علم ته وکتل او علم هم د هغه له کتو نه وپوهېد (دلته نو داسې شوه لکه هندي فلم) کوم ښکار يې چې د غټ ښکاري لپاره چمتو کړی، هغه د هغه خوښ شو، خو څومره چې هغه د شاه روحيې سره بلد و، يوازې دا کاته يې کافي و**نه بلل، په** تمه شو، تر څو د شاه ټول پام ور واوړي؛ يو څه وخت يې ونيو، روسته يې پريکړه وکړه چې د لوبې دوهمه ننداره راواړوي (يوازې دا دوهمه ننداره نه، بلکې دې لوبې ډيرې ننداريې درلودې چې روستۍ هغه يې د تور او سپين مجله کې د يو عکس په چاپولو سره پای ته رسيږي).

**تر** ډيره پورې مجلس دوام وموند، علم سربېره پر دې چې **(مهستي)** او د هغې ارکستر يې رابللي ول او ميلمنو د هغې سندرې واورېدې، روسته لاړ د هوټل ارکستر يې هم راوغوښت، تر څو د شپې په پای کې ميلمانه فرنګي نڅا وکړي او له دې نڅا نه د هغه موخه دا وه چې د نڅا پر مهال شاه په اسانه وکولای شي، طلا سره ووينې او ورسره اشنا شي.

د نڅا ترتيب داسې و، چې ښځو يوه وړه کړۍ **(حلقه)** جوړوله او نران په يوه لويه کړۍ کې له هغوی څخه تاوېدل چې په دغه وخت کې موزيک کې تېزي راتله او ښځو او نرانو له دواړو مخالفو خواو نه په څرخېدو پيل کاوه، ناڅاپه **به** موزيک ودريد، په همغه حالت کې به چې کومه ښځه د هر نارينه مخې ته وه، د موزيک په پيلدو به يې ورسره نڅا کوله؛ هغه شپه ټوله نڅا، د طرحه شوي پروګرام له مخې تر سره شوه او کامبيز اتابای د علم په دستور د ارکستر رييس سره ودرېد او هغه ته يې وويل: کله چې ما اشاره وکړه، موزيک بند کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظور يې دا و چې کله شاه د طلا مخې ته ورځي، ارکستر بايد ودرېږي، تر څو شاه له طلا سره ونځېږي (او دا کار بايد د دې لپاره څو ځله تکرار شي چې د مجلس ټول کسان طلا او شاه په دغه حالت کې ووينې).

دا نڅا درې ځله پرلپسې تکرارېږي، همدارنګه د نڅا تر څنګ چې د طلا د لا زياتې پېژندنې لپاره ترتيب شوی کار و، شاه له هغې نجلۍ نه پوښتنې وکړې او هغې هم په وارخطايۍ او شرمناک ډول ځوابونه ورکړل چې په پايله کې د شاه خوښه شوه.


France Dimanche
Terrible drame d'amour à Téhéran
FARAH ET LE CHAH DIVORCE!

د يوې تل پاتې ماهرانه شپې لوبې خيمه!

له دغه ځايه روسته د مقالې ليکوال خيالي خبرو ته ځي او دا چې له دې هيسته پوره خبر نه دی او هلته غواړي خپله مقاله وغځوي، نو په داستاني توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوام ورکوي چې په دغه کتاب پورې تړاو نه لري، نو ځکه د هغو له ذکر کولو څخه ډډه کوو.

له هغې پېښې روسته فرح دا جریانونه په یو ډول له ځانه جوړوي او خپلو ملګرو ته یې وایي، هغوی چې په یادې میلمستیا کې ول، شېبه په شېبه یې دغو جریانونو ته نور اړخونه ورکړل او په ټولنه کې یې د شایعې په ډول ټول خپاره کړل چې په همدې توګه د شاه، فرح، علم، اتابای او د طلا د خاله په اړه تبلیغاتي پروګرام، لکه د (تمام رنګی) ډرامې په ډول خوله په خوله په ایران کې خپرېږي او د دې لپاره چې دا اوازه لا نوره هم خپره شي، په غیر مستقیم ډول یې یاد انځور په سپین او تور مجله کې خپور کړ چې رښتیانی هم په سبا یې له مطلوبې موخې سره سم هدف ته رسیږي او خلک دا مني چې شاه نوې ښځه وکړه.

اوس نو څوک څه خبر چې د پردې تر شا څه ول؟ خو علم او اتابای د هغو دوو **ښځو رول**ونه ځانګړي کوي او بیا شاه له فرح سره میلمستیا ته وربولي او ان تر دې چې د فرح نزدې ملګري هم دغه مجلس ته دعوت کوي چې بیا پر هغو بسنه نه کوي او هره شېبه د خپلو دوستانو په مرسته او د روز زن مجلې سره د مرکې له لارې دغې شایعې ته لمن وهي او بالاخره بهرنیو ورځپاڼو **ته د** لاسوهنې او دغه منځ ته د راننوتو لاره هواروي چې همدلته دا نندارہ هم پای ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په دغو پېښو کې د اشرف پهلوي رول**

اوس به اشرف پهلوي ته راوګرځو او وګورو چې دغې نرصفته ښځې په دغو ټولو پېښو کې څومره رول درلودلی دی؟
اشرف د شاه غبرګونې خور وه او دواړه فقط د څو دقيقو واټن کې په يو وخت له يوې مور څخه دنيا ته راغلي دي. داسې برېښي چې له همغه پيل نه تقدير د دې لوبې پلان جوړ کړی و؛ په دې معنا چې د جنيټيکي اختلالاتو له امله د محمد رضا خوی او بوی ښځينه وخوت او د اشرف خوی او بوی نارينه؛ کيدای شي ځيني هغه اختلالات چې د ملکې مور په رحم کې رامنځته شوي ول، د تقدير يوه لوبه وي.



د ايران اصلي شاه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول هغه کسان چې دربار سره بلد دي، ښه پوهېږي چې د ايران اصلي او حقيقي شاه اشرف پهلوي وه او د ټولو چارو واګې يې په خپل لاس کې وې، همدا وه چې د زمري ۲۸مې کودتا يې د امريکايانو په مرسته ترتيب کړه او خپل مخلوع ورور يې سلطنت ته بېرته راووست، همدا وه چې د ايران د چارو واګې يې په هرې خوا اړولای شوې، همدا وه چې لازم تړونونه او تفاهمونه يې د ټولو بهرنيو هيوادونو سره درلودل، همدا وه چې ټولو بهرنيو مهمو کنفرانسونو ته به تلله او د ايراني سياست اصلي رييسان به يې ټاکل.

څومره چې شاه سست مزاجه، بې کفايته، بې مالګې او ډارن و، همغومره اشرف د خپل پلار رضاخان رښتيني لور (يا رښتينی زوی) وه او ټول کيفيات يې لکه غوصه، د مبارزې روحيه او د قومندانۍ او مشرۍ واک او ځواک يې تر نارينوو کم نه و؛ پر دغو خصوصياتو سربېره ډېره شهوتي هم وه او د هغې دا خصلت هم سم دم د اعيان خلکو ته ورته و او دا کار د تقدير و چې يو نر يې ښځډوله پيدا کړ او يوه ښځه يې نرصفته.

اشرف په حقيقت کې له محمدرضا سره د غبرګونتوب له امله ځان د ايران حقيقي شاه باله، دغه راز پر ټول وضعيت دومره واکمنه وه چې د هيواد چارواکو به په مخلوع شاه باندې هيڅ حساب نه کاوه.

اشرف د خپل ورور له ناپوهۍ، بې تفاوتۍ او بې کفايتۍ نه په وار وار خپلو ملګرو ته سر ټکولی و، چې په مختلفو ځايونو او بېلابېلو ورځپاڼو کې يې ذکر هم شوی دی.

اشرف په پيل کې ځانته دا حق نه ورکاوه چې هغه دې د هيواد واګې او د چارو ټول واک خپل کړي، خو دا چې په دربار کې لومړنی کس و چې د خپل ورور له جنسي کمزورۍ څخه خبرېږي، نو دا ډاډ ترلاسه کوي چې که ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د جنسي کمزورۍ له امله اولاد نشي زېږولی، په قانوني توګه حق لري چې زوی يې د شاه يو همنسله په توګه د ايران راتلونکی پاچا وي او په دې لاره کې دومره مخکې لاړه، چې ورو ورو يې ځان د ايران حقيقي شاه وګاڼه او د ايران راتلونکې شاه مور.

خو ولې اشرف لومړنی کس وه چې په دربار کې له دغه راز څخه خبرېږي؟

بايد بېرته شاته وګرځو! هغه وخت ته چې ارنسټ پېرون له شاه سره ايران ته **راستون شوی** و.

معمولاً دوه غبرګوني د ماشومتوب ورځې يوځای سره تېروي، نو په دې به خدای پوهېږي چې اشرف څه وخت له دغه راز او اړيکې خبرېږي، خو دا چې خپل غبرګونی ورور وربانديې ګران و، د دې لپاره چې بل هيڅوک له دغه رازه خبر نشي، په دې اړه يې خوله پټه ونيوله.

**پر دغه راز له** پوهېدو روسته اشرف هم هوس کوي او لېوالتيا ښيي چې بايد د ارنسټ پېرون له نزديکت څخه خوند واخلي او همغه وه چې رښتيا هم د ارنسټ پېرون د معشوقو په کتار کې راغله؛ خو ورو ورو يې يوازې پر هغه له بسنې زړه موړ شو، له دې روسته به يې چې چېرته جذاب او ښايسته نر وليد، د زړه تانګونه به يې ورته سست شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ایران اصلي شاه او خیالي ولیعهد !

فوزیې سره د شاه په واده کې اشرف هیڅ ډول لاس نلري، بلکې دا هغه ګوله (مړۍ) وه چې رضا شاه د خپل زوی لپاره تیاره خولې ته پورته کړې وه او دا چې اشرف او د شاه نور اولادونه له هغه داسې ویرېدل لکه سپي، نو اشرف د خپل غبرګوني ورور د جنسي کمزورۍ په اړه خپل پلار ته هیڅ ونه ویل؛ ځکه هغې داسې فکر کاوه چې که رضاخان له دغه راز نه خبر شي، نو د نیکبختۍ او اقبال مارغه، چې اوس یې پر سر ناست دی، هغه به والوزي، ځکه چې رضاخان خامخا یا محمد رضا له ولیعهدۍ څخه ګوښه کاوه او یا یې هم واژه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پر ځای يې بل باکفايته زوی علي رضا وليعهد ټاکه. همدلته وه چې اشرف خوله پټه ونيوله ځان يې شا ته وويست او د محمد رضا او فوزيه د واده پر وړاندې يې خنډ رامنځته نکړ.

اشرف فکر کاوه چې شاه خو جنسي کمزوري لري، نو فوزيې سره به هيڅ هم ونشی کولای او له همدې امله به فوزيه هم د خپل مقام ساتنې په خاطر په خنثی ډول هغه سره ژوند وکړي، يا به د حقيقت په پوهېدو سره طلاق واخلي او ايران به پرېږدي او په پايله کې به اشرف خپلې موخې ته ورسيږي، يعنې زوی به يې پاچا شي.

خو د هغې دا خوب رښتيا نه شو، هغې هيڅکله دا فکر نه و کړی چې د ارنسټ پېرون لخوا به فوزيه حامله کيږي، اشرف ټولې خواوې سنجولې وې، خو د خپل ورور دا بې غيرتي يې نه وه سنجولې؛ کله چې وپوهېده چې کار له کاره تېر دی، ډېره خواشينې شوه او په دې ډاډمنه شوه چې د فوزيې په خېټه کې د ايران راتلونکی ولسمشر دی.

ورځې او شپې تېرې شوې او ډېر ژر فوزيې خپل اولاد دنيا ته راووړ، خو د اشرف له ښه چانسه هغه نجلۍ شوه او هغه هم کټ مټ ارنسټ پېرون ته ورته وه چې د هغه ټول مشخصات پکې ليدل کيدل.

اشرف چې د پېښو په رازونو باندې پوره پوهېدله، دا ځل يې بې احتياطي ونکړه او ژر تر ژره د محمد رضا او ارنسټ پېرون او خصوصاً د فوزيې په اړيکو پسې شوه؛ بالاخره فوزيه يې تهديد کړه او ورته ويې ويل چې بايد ايران پرېږدي، ګنې نو ټول رازونه ووايي او هغه به د ټولو پر وړاندې رسوا او ذليله کړي؛ دا چې فوزيه له ارنسټ پېرون سره خورا خوشحاله او ارامه وه، خو خپل عزت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابرو هم ورباندې ډېر ګران **ول**. په همدې خاطر يې ايران ترک کړ او اشرف ته يې د لوبې ډګر پرېښود.

دا چې په ټولو مقالو کې اشرف د فوزيې اصلي دښمنه بلل شوې، علت يې د دغې پېښې جريان و، چې هغې د رسوا کولو په عنوان وګواښله او هغه هم وتښتېده. اشرف په داسې ډېرو مسايلو پوهېدله چې نور هيڅوک نه ورباندې پوهېدل.

روسته شاه دا اوازه واچوله چې فوزيه د رضاخان د بد سلوک له امله طلاق واخيست او هغه هم خاص په دې خاطر چې ولې يې لور وزيږوله؛ خو دا ډېره ماشومانه اوازه وه، ځکه پخپله د رضاخان هم لومړنی اولاد لور وه، هغه دومره روڼ اندی و، چې حجاب يې رامنځته کړ او خپلې لورګانې يې ښوونځي ته واستولې؛ سربېره پر دې، آيا رضاخان نشوی کولای چې يو څه وخت نور صبر وکړي، تر څو دوهم او دريم اولاد يې وشي، کيدای شي په هغو کې يو زوی وي او يا هم د فوزيې په ساتلو سره محمد رضا ته بله ښځه وکړي. دا او داسې نورې په لسګونه پوښتنې دا ښيي چې ما او تاسو ټولو ته دروغ ويل شوي چې هيڅکله قانع کوونکي نه دي.

که څه هم د رضاخان او فوزيه په تلو سره د اشرف لاس لا پسې خلاصيږي، خو بيا هم د تار سر ترې له لاسه وځي. هغه داسې چې ارنسټ پېرون د اشرف له نيت نه خبر و، چې هغه ټولې هلې ځلې د خپل زوی د پاچاهۍ لپاره کوي، نو محمدرضا ته يې د دوهم واده کولو وويل، هغه هم له اشرف نه په پټه ملکې مور او شمس ته دا خبره وکړه او په پای کې يې دا ټينګار پرې وکړ چې له دې موضوع بايد اشرف خبره نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همغه وه چې شمس له اشرف نه په پټه د درملنې په نوم له هېواد نه بهر ځي او بیا شاه سره د ثریا د واده بندوبست کوي، خو کله چې اشرف له دې مسألې خبرېږي چې واده شوی دی او اوس هیڅ کار نکیږي، نو کراره کښېناسته.
عجیبه خو دا ده چې شاه د انځور له مخې ثریا خوښه کړله او په همدغه اساس یې ورسره واده وکړ. آیا دا به عقل ومني چې د یو هیواد پاچا چې یوه برخه ژوند یې هم په اروپا کې تېر کړی وي، نالیدلې او د یو انځور له مخې خپله ښځه انتخاب کړي؟
اشرف پوهېده چې دا ځل هم د ارنسټ پېرون هوس دی چې ثریا یې دربار ته راوستله (شمس او ملکه مور له دغه راز نه ناخبره وې) نو ډېر ژر لاس په کار شوه او سره له دې چې ثریا سره یې پر لیدو بندیز لګېدلی و (په جریدو کې بالعکس راغلي چې اشرف د تکبر له امله ثریا ته نه ورتله) هڅه یې وکړه چې د خپلې سهیلۍ په مرسته ثریا ته دا احوال ورورېي چې د واده په اوله شپه به د شاه پر ځای ارنسټ پېرون ورسره ځملي (ثریا پرې زیات باور ونکړ)، بالاخره د ثریا بختیاري کورنۍ د څو تنو غړیو لخوا تیاری نیول کیږي او د زوم او ناوې د کوټې دروازې شا ته دریږي (البته د پخواني دود له مخې چې د هغوی په وینو رنګ دسمال ووینې).
شاه چې کله ویني، غشی یې په تېره ولګېد، نو د پوهنتون پېښه ثریا ته مخکې کوي او د خپلې جنسي کمزورۍ علت دا ښیي چې هلته ورباندې مرمۍ لګېدلې وه.
سربېره پر دې چې پلمه یې جوړه کړه، په ټمه کیږي، تر څو په یو مناسب وخت کې ارنسټ پېرون کار تمام کړي او له همدې لارې ایران د ولیعهد څښتن شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا ځل چې اشرف موقع له لاسه نه ورکوله، په دې بريالۍ شوه چې ثريا سره مخامخ کښيني او د شاه شنډتوب ورته په ډاګه کړي، همدارنګه کرار کرار يې په دې هم وپوهوله چې که ميندواره شوه، نو ټول به وپوهيږي چې هغه اولاد د مخلوع شاه نه، بلکې د بل چا دی.

له همدې امله ثريا چې له يوې درنې، باعزته او اصيلې کورنۍ څخه وه، په هيڅ ډول يې ارنسټ پېرون ته تن کېنښود او حاضره نه شوه چې هغه سره په بستر کې يو ځای شي.


خاطرات

خاطرات ملکه ثریا ... (۲)

آشنائی من با شاه ایران بوسیله دو قطعه عکس انجام پذیرفت

# کوششهای اشرف پهلوی برای جلوگیری از ازدواج من با شاه

ثریا در زمان تحصیل، تصویر او را در کنار مادر و برادرش بهنگام یک سفر تفریحی (ژنو) نشان میدهد

(c) ketabton.com: The Digital Library





" روزا واریان " که برای من پیشخدمتی صمیمی و در عین حال همدمی مهربان و فداکار بود روبرویم ایستاددستهایشرا بهم حلقه کرده بود بمانند کسی که نفس گلویش راگرفته باشدگفت،علیاحضرتا من داخل سالن پذیرائی شاهنشاه نشده بودم هنوز پشت پرده اطاق پیانو بودم که شنیدم یکی از خانمها باعلیحضرت می گوید سلطنت ولیعهد لازم دارد اعلیحضرت هرچه زودتر تصمیم بگیرید خوب گوش دادم گوینده این حرفها " خانم علاء " بود ،خانم شمشانی هم حرفهای او را تصدیق می کرد .و اعلیحضرت که خیلی گرم ومهربان هر دوی آنها را نوازش می کرد صحبتشان گل انداخته شروع کردند برای شاه " جوک " گفتن چه " جوکهای " وقیحی اعلیحضرت می خندیدند بعد ایران خانم شروع کرد گله کردن و گفت وقتی من در امریکا تحصیل میکردم

بسفارت خبر دادند که شاهنشاه بامریکا آمده ومیل دارند شما را ببینند آن موقع پدرم سفیر کبیر ایران در آمریکا بود روزنامه هائی نوشته بودند که اعلیحضرت مایلند با دختر علاء ازدواج کنند ولی قرعه فال بنام علیاحضرت ملکه ثریا زده شد که باین سعادت دست یافت اما تاکنون نتوانسته است ولیعهدی بوجود بیاورد بعد واریان اشک در چشمهایش حلقه زد با ناراحتی تمام گفت علیاحضرتا می ترسم عاقبت این وسوسه ها اعلیحضرت را وادار به کارهائی بکند ، از احساسات او خیلی ممنون شدم ،گفتم این کار نگرانی ندارد ، آنچه من فکر می کنم اینها تحریک شده از جانب اشرف خواهر شاه هستند هر چه خدا خواست همان میشود ولی من مطمئنم که اعلیحضرت خیلی مرا دوست دارد ، محال است روزی برسد که بخواهد با این حرفها مرا فراموش کند ،

قبل از عروسی با شاه او بمن قول شرف داد که تا عمر دارد با وفا و صفا و صمیمیت با هم زندگی کنیم " روزا " پرسید ، علیاحضرتا ، راستی شما چگونه با شاهنشاه آشنا شدید با اینکه در آنموقع زیاد حوصله حرف زدن نداشتم ولی برای اینکه او تصور نکند خواهشش را بر آورده نمیکنم مقدمه ای از ابتدای یادداشتهای زندگیم را برایش خواندم که عیناً در این جا نقل می کنم ،قبل از اینکه شاه مرا بشناسد ، بازار شایعه درباره ملکه آینده ایران سراسر دنیا را پر کرده بود ، رمالان و کفبینان و فالقهوه بگیران و دیگر حقه بازان که بهر دختری شانس همسری با شاه را می بخشیدند و از این راه بیشتر خانواده های سرشناس را امیدوار میکردند ، بازارشان گرم شده بود ، و تعداد کاندیدای افرادی که خود را ملکه آینده ایران میدانستند روزبروز زیادتر میشد ، از جمله زنان معروفی

**د اشرف په اړه د ملکې ثريا څو خاطرې!**

البته ارنسټ پېرون ډېره هڅه وکړه، چې د هغې زړه تر لاسه کړي، خو هر ځل يې غشى په تېږه ولګېد، هغه داسې چې ثريا به يا د ذاتي نجابت له امله او يا د اشرف پر وړاندې د رسوا کېدو له وېرې هغه هيڅکله پرېنښود، تر **څو هغه خپلو** شومې موخې ته ورسيږي او د خپل هوس تنده ورباندې ماته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مور اوس د يو سويسي وليعهد خاوندان وو!**

اشرف ډېر ژر د ارنسټ پېرون له اقداماتو خبره شوه او سره له دې چې د هغوی د نزديکت پر وړاندې يې خپلې هڅې څو برابره کړې وې، دا ځل يې طاقت ونشوای کولی او پر يو لوی خيانت يې لاس پورې کړ، هغه دا چې د ثريا يوه معمولي تبه وه، خو هغې د خپلې خدمتکارې په مرسته پلان داسې طرحه کړ چې بالاخره وتوانېده په روغتون کې د ثريا په خېټه کې د هغې رحم ته صدمه ورسوي چې که چېرې هغه له ارنسټ پېرون سره يوځای هم شي، نور به يې د حامله کېدو اندېښنه نه وي. له هغې روسته اشرف د بيغمې ساه واخيسته او ډاډه شوه چې له دې هيسته د ثريا حامله کېدو هيڅ امکان نشته او د ايران راتلونکی وليعهد به د هغې خيالي زوی وي.
څه موده په همدغه ډول تېرېږي او ثريا چې د مېړه په شتون کې بې مېړه وه، نه يې غوښتل چې خپل مقام او دبدبه له لاسه ورکړي او همدارنګه ايران ته يې د اخلاص له مخې ځيني خپل کسان هم پر دندو وګمارل، تر څو خدمت وکړي، خو دا چې اشرف نشوای زغملی، نو د کار تماموولو په خاطر بله پرېکړه کوي او همغه وه چې بيا ثريا ته ورځي او هر څه ورته يو ځل بيا په ډاګه کوي. ثريا هم دا ځل جدي تصميم نيسي چې بايد دا قضيه وڅاري او پر حقيقت پوره ځان وپوهوي.
له دغه ځايه روسته نور روايتونه متفاوت دي، يو راويت داسې دی چې ثريا د اشرف له حضور نه پرته هر څه د دروازې د کيلي له سوري څخه ليدلي دي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل روایت دا دی چې یوه شپه اشرف په دې پوهېدله چې شاه له ارنسټ پېرون سره فیروزه ماڼۍ ته تللي دی، نو په منډه ثریا ته ورځي او بیا دواړه په ګډه فېروزه ماڼۍ ته ځانونه رسوي؛ دا چې هلته هم اشرف ټول مقدمات سمبال کړي ول، نو په هغه دهلیز کې چې مطلوبې کوټې ته باید ورننوځي، اشرف ځان ترې ګوښه کوي او لومړی ثریا هغې کوټې وردننه کیږي او هلته هر څه په خپلو سترګو ویني؛

روسته بیا شاه ته خپل تریخ پیغام رسوي او په سبا یې ایران پرېږدي چې له همدې لارې اشرف یو ګام نوره هم مخکې ځي او خپلو هدفونو ته ورنزدې کیږي.

دا ځل اشرف د پښې ټینګېدا په خاطر بله پرېکړه کوي او هغه دا چې باید ارنسټ پېرون له مخې لېرې کړي چې بالاخره بریالۍ کیږي او هغه مسمومويږ؛ د ارنسټ پېرون وضعیت بدلیږي او ان یوه پښه یې تر ډېره وخته فلجیږي چې د دغه فلج کېدا له امله ارنسټ پېرون له شاه څخه ویریږي او ځان ترې ګوښه ساتي، خو د خپل هوس مشغولولو لپاره یې نورې ښځې پیدا کوي او یو بل ځای کې د خوندونو او شرابونو کیسو ته مخه کوي، چې بیا په روستۍ شپه له دربار نه بهر په بې هوښه او مست حالت کې له څو ښځو سره لیدل کیږي.

ځینو نورو بیا دا مسأله داسې رانقل کړې ده: کله چې شاه وپوهېد چې ارنسټ پېرون د ثریا په زړه کې ځای نشي موندلای، نو روسته له هغې چې کله خبیرخان سره آشنا شو، پرېکړه یې وکړه، تر څو دا دنده خبیرخان ته، چې خورا ښایسته، جذاب او خوږ ژبی ځوان و او همدارنګه د ثریا قومي یعنې بختیاري هم و، وسپاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅوک نه پوهیږي چې د ثریا او خبیرخان تر منځ دا اړیکه څه وخت ټینګه شوې، ځکه که دوی دواړو جنسي عمل تر سره کړی وي، نو هلته خو ثریا د اشرف لخوا شنډه شوې وه او په هیڅ ډول هغه نوره نشوای میندا‌وره کیدلی.

(کېدای شي د ثریا شنډېدل له دې پېښې روسته تر سره شوي وي، دا داسې رازونه دي چې د تاریخ په زړه کې به دفن وي، تر هغو چې پخپله خبیرخان دا **راز بربنډ نکړي).**

د یو میلیون ډالرو راز په کتاب کې داسې یادونه شوې ده: **(شاه د شاهانه** مهربانۍ په نخښه، خبیرخان ته د خپلې مانۍ په زمکو او ښایسته محلونو کې د استفادې اجازه ورکړه..... او اوس باید پخپله پوه شئ).

دلته بیا اشرف تصمیم نیسي، همدا خبیرخان چې د شاه خورا ډېر خوښیږي (!) له مخې لېرې کړي او یوه توطیه ورته ولټوي چې په دې اړه هم (د یو میلیون ډالرو راز) په کتاب کې مفصلاً راغلي دي، البته له واقعیت سره دومر اړخ نه **لګوي.**

اصلي جریان داسې دی چې اشرف د خپل یو تن (کارکوونکي) **په مرسته، د** خبیرخان موټر د لږ وخت لپاره ترې اخلي او بیا د خپلو خاصو کسانو په وسیله په هغه کې جاسوسي او مخابراتي وسایل ځای پر ځای کوي؛ روسته یې په ډېر هنر سره شاه ته ورولي، شاه چې د موټر او موټر چلونې ډېر لېوال و، ورخیژي او د یوې شیبې لپاره یې چلوي. په دغه لږ کې یې پر جاسوسي وسایلو سترګې لګیږي چې بیا له همدې امله د جنرال محمد دفتري په لاس خبیرخان ته احوال ورکوي چې باید ایران ترک کړي.

داسې هم کېدای شي چې پخپله اشرف په نامستقیم ډول شاه ته خبر ورکړی وي، تر څو د خبیرخان موټر ته سر ورښکاره کړي او د هغه پر اصلیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپوهیږي. په هر حال، باید وپوښتل شي چې ایا د جاسوسي وسایلو د پټولو لپاره نور ځایونه قحط ول چې د هغه په موټر کې یې ځای پر ځای کول؟ له دې پرته، خبیرخان د انګلیس او امریکا هغه دوه مخی جاسوس و، چې د دواړو هیوادونو د سفارتونو په مرسته یې په ډېرې اسانۍ سره کولی شوای، خپلې وظیفې تر سره کړي. دا به اوس ډیره ماشومانه وي چې د هغه په موټر کې د جاسوسي وسایلو د ځای پر ځای کولو خبره ومنو.

بالاخره خبیرخان د اشرف د توطیې له امله له ایران څخه ویستل کیږي، خو دا دوه مخی (دوه پلوی) جاسوسي مامور داسې اطلاعات درلودل چې زیات ګټور ول او همغه وه چې د امریکا د وخت دولت ته یې د شاه د شنډتوب په اړه هر څه وویل.

د روستیو پېښو په اړه بېلابېل تفسیرونه شوي دي، له هغو نه یو هم شاه سره د فرح واده دی چې د تور سازمان لخوا پلان شوی کار بلل کیږي او وایي چې د یاد سازمان ماهر غړي اردشیر زاهدي لخوا ترتیبیږي. ځکه د زمري۲۲مې نه روسته شاه د امریکایي دولت د شپې لوبو د خیمې نانځکه وه او امریکایي مامورانو هم غوښتل چې شاه باید یو زوی ولري، تر څو د هغوی حکومت دوام ومومي. که څه هم دا روایت منل شوی نه دی او یوازې حدس دی، خو که واقعیت ولري، نو دلته بیا اشرف د خپل بادار په مقابل کې دریږي او همغه وه چې بیا نوره چوپه پاتې کیږي. البته روستۍ پېښې څه نا څه کولای شي، موږ قانع کړي چې شاه د خپلې پاچاهۍ په روستیو کې پر دې پوهېدلی و، چې اشرف ورته توطیې لټوي.

اشرف چې نور یې واک ته د زوی د رسیدو تمه له منځه تللې وه، پر یو بل کار لاس پورې کوي. لکه څنګه چې له شاه نه د اشرف نفوذ زیات و او ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارې د هغې په لاس څرخېدلې، نو د کارونو د ولکه کولو تر څنګ داسې يوه لاره جوړوي، تر څو د پوځ جنرالانو ته ځان ورنزدې کړي او بالاخره يوه کودتا وکړي چې په پايله کې شاه له واکه لېرې شي.

اشرف لاس په کار شوه او لومړی د خپل اخښي/اوښي يعنې خورمېړي جنرال خاتمي سره اړيکه نيسي (جنرال خاتمي د فاطمې مېړه، چې د شاه له جنسي کمزورۍ نه خبر و)، تر څو يوه کودتا تنظيم کړي. د دغې کودتا له ترتيبوونکو څخه يو هم تيمسار خادم او ځيني نور دي چې د هغوی نومونه لا تر اوسه نه دي رسوا شوي؛ خو په هر حال، د بې باکۍ او بې غورۍ له امله په دغې طرحه کې يو درز پيدا کيږي او دا خبر شاه ته رسيږي.

شاه د جنرال خاتمي له مصنوعي وژلو روسته (چې علت يې هم له کايټ «د الوت لپاره يو کسيزه آله» نه يې د غورځېدو ښودلی ـــــ خو دلته هيڅوک نشته چې وپوښتي، آيا ۶۸ کلن جنرال هم په کايټ کې ځان بندوي، **تر څو د** غره له څوکې الوت وکړي؟) داسې ښکاره کوي چې د کايټ د سقوط له امله هغه مړ کيږي او سربېره پر دې دا دستور صادروي چې بايد د اشرف پهلوي ټولې تليفوني او ... اړيکې د امنيت د ادارې لخوا کنټرول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






# کیوان خاتمی، پسر فاطمه چرا در کشتن شاه موفق نشد؟

کیوان خاتمی معتقد بود که پدرش ارتشبد خاتمی بدستور شاه کشته شده است ، از این رو به انتقام خون پدر ، «دایی تاجدار !» را به گلوله بست

آیا خاتمی قصد داشت علیه شاه کودتا کند و شاه پیشدستی کرد و او را به کشتن داد !

د خاتمي په اړه د يوې جريدې څرګندونې!



(c) ketabton.com: The Digital Library



روسته بيا شاه له دې خبرېږي چې د هغه ملګرى تيمسار خادم هم په دغه کار کې غټ لاس درلود چې هغه هم په يو ډول له منځه وړي او جريان د ځانوژنې په عنوان ښکاره کوي؛ که يې رښتيا هم ځانوژنه ومنو، نو دا ځانوژنه د څه لپاره وه، په دې هيڅوک نه پوهېږي؟

د خاتمي زوى چې شاه يې ماما کېږي، يعنې د فاطمې زوى د خپل پلار د وژنې له غير واقعي جريان څخه خبرېږي او پرېکړه کوي چې شاه له منځه يوسي چې بيا يو مناسب فرصت مومي او د نوي ښار په سيمه کې پر شاه پوره نهه مرمۍ ورشړي، خو دا چې تقدير ورسره ياري ونکړه، د هغه لاس رېږدي او ايله يوه مرمۍ د شاه پر لاس لګېږي. دغه اوازه بيخي ډېر ژر په ټول هيواد کې خپرېږي چې بيا د څه مودې لپاره شاه هيڅ نه ليدل کېږي، تر هغو چې يوه ورځ د تلويزيون په پرده په يو مونتاژ فلم کې بيا راڅرګندېږي.

دا ټولې پېښې اخر د دې لامل ګرځي چې شاه خپل مشاعر له لاسه ورکوي او يو ناځاپه دا تصميم نيسي (البته فرح سره په مشوره) چې د دغو **ټولو ستونزو** عامله يعنې اشرف بايد له ځانه لېرې کړي؛ خو خبر نه و، چې د اشرف يعنې اصلي شاه يا اصلي کرکټر په لېرې کېدو سره به ډېر ژر هغه هم د هيواد د چارو واګې له لاسه ورکړي.

بله ورځ خبر شوو چې شاه خپل څنګ او څټ نه ټول درباريان لېرې کړي دي او همدارنګه نورې چارې يې هم پرېښې دي چې په دغه کتاب کې يې يادولو ته اړتيا نشته؛ خو چې هر څنګه و، بالاخره اشرف په دې ونه توانېده چې خپلې موخې ته ورسېږي او بالعکس ډېره ګرانه ورته تمامه شوه چې بيا ان له درباره **هم وشړل شوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چيرې دا ټول جريانونه رښتيا وي، بيا خو په دغو پېښو کې اشرف هم ملامته نه وه چې غوښتل يې د ارنسټ پېرون يا کريم پاشا بهادري له تخمه خپل زوی د ايران وليعهدۍ ته غوره وبولي.

**د همجنسبازو په کلب کې د شاه تصوير**

د ايران د شاه انځور د اروپا او امريکا د همجنسبازۍ په زياترو کلبونو کې د اصيل همجنسباز په توګه لګېدلی دی او ان تر دې چې همدا انځور يو ځل په امريکايي ټايم مجله کې د همجنسبازۍ يو مطلب سره خپور شو، چې په نړۍ او ايران کې يې خورا شورماشور جوړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






همدا انځور چې د امريکا د همجنسبازو د کلب پر دېوال نقاشي شوی او ښه روڼ ښکارېږي چې د ايران شاه دی، د همدغه انځور ياده مقاله په ټايم مجله کې داسې راوړل شوې ده:

همجنسباز ځوانان د نيويارک سرکونو ته راټول شوي دي، هغوی تنګ پرتوګونه **او ازاده** (لوی) نېکرونه اغوندي او ډله ډله د ګرينويچ پر سرک کښته او پورته کېږي، هغوی په خپل سلوک او زياتو پلويانو سره چې لري يې، داسې څرګندوي چې ګواکې دا سرک او ټولې هغه شپې چې دلته پر سرک تېرېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې د دوی دي؛ خو لږ پورته بیا د (تایمز) میدان لویدیځ ته په دوه څلویښتم سرک کې د دوی نور ملګري، په داسې حال کې چې زاړه او چټل جاکټونه یې پر تن دي، د دریمې درجې سینماګانو او ناکاره کتاب پلورنځیو مخې ته په مشتري پسې ګرځي چې د دغې ډلې ځیني فاسدان ځینو لارویانو ته ډېر ښه معلوم دي.

نرښځي خپل موټر د شیکاګو میدان (بګ هاوس) خواته بیایي، تر څو هغو همجنسبازو سره اړیکه ونیسي چې د میدان شاوخوا ته کار کوي. یو ډلګی مشر وایي: دا نران له خپلو ښځو او کورونو نه هر مازیګر په دې پلمه راوځي چې ګواکې ورځپاڼه پېري او بیا ان تر دغه ځایه په څپلکو کې پلي راځي.

په هالیووډ کې روسته له دې چې د شپې کارکوونکي رخصتیږي، نو د سلما په سرک کې تیاره او کراري شي چې دغه وخت د همجنسبازو د لیدو لپاره ښه ځای دی.

همجنسبازي او ټول اړوند مسایل چې همجنسبازان یې رامنځته کوي، په امریکا پورې تړاو لري، ځکه چې د دوی اکثریت اوس هلته په شیکاګو، لاس انجلس، سانفرانسیسکو، نیواورلان او میامي کې ژوند کوي. په دغو ایالتونو کې هغوی داسې ټولنې جوړې کړې چې کولای شي ټول ملګري پکې راغونډ شي.

له دې سره سره د کلیفورنیا ایالت دوی ته ډېر محبوب او د پام وړ دی، خو سانفرانسیسکو بیا د دوی د فساد پایتخت نومولی شو؛ دیرش کلبونه یا ځایونه هلته شتون لري چې همدوی پکې اوسیږي، خو زیاتره کلبونه یې بدلیږي، ځکه چې پولیس تل د دغسې فاسدو ځایونو په لټه کې دي او تر ډېره دا کلبونه ایله بیله ۱۸ میاشتې عمر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیني همجنسبازان د ښار باارزښته او ګرانبیه هوټلونو ته ځي او هلته په برنډو، بالکنونو او دهلیزونو کې کښیني، تر څو کوم ځایي سوداګران او مسافران چې هلته راځي، په خپل دام کې یې وغورځوي. ځیني یې بیا په خلکو کې ډېر نفوذ لري چې عملي یې ښودلې هم ده. لکه خوزه ساریا چې یو ځل یې د خپل ښار د مشرۍ په ټاکنو کې ۶۰۰۰ رایې وګټلې.

په **۱۹۵۷**ز کال کې د انګلستان د دولت لخوا د یوې کمیټې په مرسته چې مشري یې سرجان ولفنډ کوله، د همجنسبازو په اړه یې یوه مشهوره وینا خپره کړه. دغې کمیټې دا وړاندیز وکړ چې انګلستان دې خپل جنسي قوانین بدل کړي، یعنې د بالغو کسانو تر منځ همجنسبازي باید په خصوصي او ځانګړو ځایونو کې جرم ونه ګڼل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په نيويارک کې د همجنسپالو کلب د دروازې پر سر د ايراني شاه انځور!

دغه وړانديز شوې موضوع څو ځله د مختلفو مذهبونو لخوا تر نيوکې لاندې راغله، د کواکرانو ډلې (کواکران د دوستانو د ټولنې غړي دي، دا ټولنه چې په اولسمه پېړۍ کې رامنځته شوه، هدف يې دا و، چې بايد په پوښاک او سلوک کې سادګي دود شي او لقبونه حذف شي) په بريتانيا کې خلکو ته همجنسبازي يو ذليل کار معرفي کړ.

دغه راز يوه کاتوليکي عقيده لا اوس هم شته چې په هيڅ ډول همجنسبازي نه مني، خو دلته بيا دا شعار يو ډول رواني مسأله بريښي، د رابرټ ګلسيون پلار او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جورج هګ پیټر پلار د (د کاتولیک پندونه) په نوم کتاب چې د امریکا کلیسا ګانو ته یې لیکلی دی، دغه عقیده پکې تکراروي.

د (ولفنډ) د کمېټې له نظریاتو څخه زیاتره یې د امریکا په قوانینو کې دخالت کوي. په ۱۹۶۱ز کال کې د امریکا ایلي نویز ایالت پر خپلو قوانینو د بیاکتنې پر مهال، دا ماده ورزیاته کړه چې د خلکو جنسي ژوند په قانون پورې اړه نلري. په دغه قانون کې راغلي دي چې بالغ کسان هر ډول جنسي اړیکې ساتلی شي، خو دا اړیکې باید په رضا او خوښه وي، نه دا چې په زور او جبر یا له نابالغو سره او یا هم په عامه ځایونو کې تر سره شي.

خو په فلوریډا کې دا قانون یو څه بدل شو، هغه داسې چې هلته به هوموسکسولز (همجنسبازان) په کنټرول شوې توګه ازاد وي، یعنې پېژندل شوې استازولۍ (نمایندګۍ) به د دغه کار لپاره په پام کې نیول کیږي، تر څو د کسانو د ظوابطو له مخې همجنسباز کسان استخدام کړي او هغوی خپلو مشتریانو ته وسپاري.

د یادولو ده چې د امریکا پوځ کې د همجنسبازو لپاره هیڅ ځای نشته او که چیرې د پوځ په کتار کې ولیدل شو، نو سمدلاسه ایستل کیږي.

یادښت: (له دې هیسته، لیکوال د ځینو جنسي مشخصاتو په اړه د خلکو او ماهرانو بربنډ نظرونه را اخیستي چې د ځینو محددیتونو او معذرت له امله مې د هغو د پښتو کولو اړتیا محسوسه نه کړه. ما وبخښئ ______ ژباړن).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د نړۍ نامتو همجنسبازان**

د ایران له **مخلوع(نامرده)** شاه پرته چې د همجنسبازۍ تور وربانديې لګېدلی، د نړۍ زیاتره نامتو کسان او مشران هم په دغې ناروغۍ اخته ول چې د هغوی کړو وړو ته په کتو سره به لوستونکو ته ډیره عجیبه وي چې څنګه دوی دغه کار کاوه.

د اروپوهنې له مخې، هغه کسان چې ځانونه ډېر ستایي او له ځانونو پرته نور څوک غوره او لوړ نه ویني، بالاخره دوی د خپلو ځانونو عاشقان کیږي او دا د دې لامل ګرځي چې وګړی له اروایي **(رواني)** پلوه مخالف جنس هیروي او خپلې ټولې غوښتنې د خپل همجنسه په وجود کې ویني او له هغه څخه یې غواړي.

دا ناروغي لومړی ځل په یونان کې رامنځته شوه او بیا ټولې نړۍ ته وغځېدله.

یو څېړونکي په دې اړه ویلي دي چې همجنسبازي زیاتره په هغو ځایونو کې رامنځته کیږي چېرته چې ډیری وخت یوازې د یو جنس اهل **(همجنسه)** اوسیږي، مثلاً هغه د یو عسکري مرکز (چیرته چې شپه او ورځ عسکر اوسیږي) یادون کړی، یا په هغو ځایونو کې چې هلته کلک مذهبي قوانین نافذ وي؛ لکه – د کاتولیک کشیشانو ترمنځ (چې د ژوند تر پایه د واده کولو حق **نلري)** زیات لیدل کیږي. حتا تر دې چې څه موده وړاندې یو فرانسوي لیکوال پاپ تورن کړ چې هغه په ځوانۍ کې مفعول پاتې شوی دی.

دغه راز په عربي هېوادونو کې هم همجنسبازي بیخي ډیره دود ده، خو د ایران په شمال کې نارینه او ښځینه په طبیعي ډول ژوند کوي او دا عمل هلته کم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ندرت تر سترګو کېږي، اما په نور سیمو کې یې چې د نر او ښځې پر اړیکو سختي او قید ډېر دی، د دغه عمل لمن بیا خورا پراخه ده.
د یادولو ده چې یوازې له مخالف جنس نه محرومیت، د دغه انحراف رامنځته سبب نه ګرځي، بلکې مهم اړخ یې دا دی چې دا کسان بیخي ډېر ځان **خوښي** دي او هیڅکله نه غواړي، له ځانه پرته بل چا سره مینه او لېواتیا وښیي چې بالاخره ورو ورو خپل همجنس ته یې پام ور اوړي او مفعول کېږي.
له ژمنې سره سم، راځو د هغو کسانو نومونه ذکر کوو چې مخکې مو ورته اشاره وکړه:
له ډېر پخوا راهیسې چې خلک یې همجنسباز بولي **او حتا همدا همجنسبازي** یې (چې په لغت کې یوناني عشق بلل کېږي) د نړۍ نورو برخو ته د ځان سره ولېږدوله، هغه لوی سکندر دی چې دا مسأله په زیاتو تاریخونو کې په مختلفو بڼو ذکر شوې ده.
همداراز ځیني هنرمندان هم منحرف ول، لکه ایټالیوي مجسمه جوړوونکی مایکل انژ، لیونارډ او ایټالیوي فیلسوف او متفکر داوینچي یادولای شو؛ د دوی تر څنګ نامتو لیکوالان سکاروایلډ او جرمنی فیلسوف شوپنهاور هم په دغه کتار کې راغلي دي، حتا ځیني تاریخونه د یونان لوی فیلسوف او خطیب افلاتون هم همجنسباز بولي؛ خو که چیرې پر محمد رضاشاه لګېدلی تور رښتیا **وي**، نو هغه د دې نړۍ لومړنی او روستنی همجنسباز نه و او نه به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په پای کې**

ما هڅه کړې چې د شنډ شاه په اړه مختلفې لیکنې راغونډې کړم، له هر ډول تفسیر نه یې ډډه وکړم او د دې لپاره چې دغو مقالو ته علمي اړخ ورکړم، قلم مې دومره له اصلي موضوع څخه لېرې کړی چې ټول مسایل مې د ارواپوهنې په لور کاږه کړي او غځولي دي، تر څو د لوستونکي ذهن وربانديې لا ښه روښانه او وکولای شي، له دغو مطالبو نه څه ناڅه زده کړي.

پورتنیو مسایلو ته په کتو سره، بیا هم دا په زغرده نشي ویل کېدای چې شاه ربښتیانی هم همجنسباز و که نه؟ ځکه هیڅ کوم دقیق مدرک نشته چې دغه تور په قاطع ډول ثابت کړای شي؛ ښه دا ده چې پخپله لوستوکي دغه ټول موضوعات وڅېړي او پخپله ترې نتیجه واخلي.

په هر حال، دا چې شاه ښه و یا بد، یا هم همجنسباز و که بالعکس؟ خو زه د یو لیکوال په توګه په دې خوښ یم چې پسه نه یم!

مه حیرانیږئ! ځکه **تاسو تر پرونه پسونه وئ!** کېدای شي راته ووایئ چې سلطنتي حکومت ته پرته له دې چې د پسونو لړۍ ووایئ، بل څه ویلای شئ؟

یو شپون څو پسونه لري، خو کله چې شپون مري، ټول پسونه د هغه زوی ته پاتې کیږي، شاهي نظام هم همدغسې دی. کله چې شاه سره زموږ د مال او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان واک وي، نو همدا چې مړ شي، موږ لکه پسونه د هغه زوی ته په میراث پاتې کیږو؛ معنا دا چې له یو مالک نه بل مالک ته، له یو ارباب نه بل ارباب ته او له یو شپون نه بل شپانه ته پاتې کیږو، همدلته ده چې دغه اشرف المخلوقات انسان د پسه حیثیت خپلوي.

اوسمهال بشر د خپل وسیع ژوند لپاره جمهوري حکومت موندلی، کېدای شي پنځه سوه کاله روسته یو بل ډول حکومت رامنځته شي چې جمهوري حکومت به ورته ډېر روسته پاتې وبریښي.

پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library